بسم الله الرحمٰن الرحيم ط

**(ټول حقوق د مصنف په حق کښې خوندي دي)**


## کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د لفظونو په سینو کښې |
| نوم: | شېرعالم |
| قلمي نوم : | پرېشان محسود |
| د پلار نوم : | اینځرګل |
| قوم: | محسود (مسید) سویلي وزیرستان ( چګملائی) |
| د زېږون نېټه: | 1988 |
| کمپوزنګ: | پخپله (پرېشان محسود) |
| بیه: | ۲۰۰ روپۍ |
| فېس بك آدرس: | پرېشان محسود |
| د چاپ شمېر | ۵۰۰ |
| د چاپ کال | اپریل 2018 |
| چاپځای | اعراف پرنټرز پېښور |
| چاپ کتاب : | دړد او بهیر (اګست 2015) |


Ketabton.com





سینو کښې

شاعر:

شان محسود

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ترون**

**(وینې خوبونه)**

**ای ، زه چې په وینبه کوم خوبونه وینم**
**هم له هغو خوبونو**
**نه مې یو خوب ولیدو**
**چې د جنګونو د انسان دلاسه**
**یوهٔ د لسو شپو د غبرې بچې**
**په وینو سره شهیده خپله مورکۍ**
**سره د وینو د شیدو رودله**

**پرېشان محسود**



د لفظونو په سینو کښې　　پرېشان محسود

**ډالۍ**

**خپلو دوه بچو**

**خیام الهام**

**او**

**رومی رازی**
**ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ترتیب



| شمېر | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| .1 | هر سحر دي چي جمال نوي ظهور کا | 11 |
| .2 | که جلوه ده او که نور دے | 12 |
| .3 | که یم په سیوري که په لمر خوښ یم | 13 |
| .4 | ستا خبرې د پام وړ دي | 14 |
| .5 | بیا وخت د تقاضې جوړه کړه لار په ائینه | 15 |
| .6 | چي ځنځیر نغمه نغمه شو | 16 |
| .7 | مخ دې د کتو شو او که توان مې نظر اوموند | 17 |
| .8 | حسن لېوني وېل چي د زړونو سیني ځیرم | 18 |
| .9 | مرض مې ستا د عشق چي د ځیگر سره شو غاړه | 19 |
| .10 | چي مې تللې ښکلې یار دې له اغوشه | 20 |
| .11 | دا عشق مې مستانه وو که په ساز کښې وه مستي | 21 |
| .12 | ښکلې زړه ښکلې نظر لرم ځل مخې | 22 |
| .13 | ځواب د ولې چي شي ولې پاتې | 23 |
| .14 | ښۀ ده چي سر ته ارمان اونۀ رسي | 24 |
| .15 | زما یار لېوني گورئ ، چي په شپه ځي | 25 |
| .16 | زه د ستا په غم کښې ژاړم او تۀ خاندې | 26 |
| .17 | د بانو خوکې دې اشنا په پردو زړونو لگي | 27 |
| .18 | د غزل شپه ده غزلزار یمه نن | 28 |
| .19 | وختونه اړول نۀ دي دي دهر کښې ژوندون دے | 29 |
| .20 | پوهېږم نۀ هستي او که زما د مستي سوال دے | 30 |
| .21 | وایم درته وایم خو خبرې ته مې پرېږده | 31 |
| .22 | ښکته څۀ دي بره څۀ دي؟ | 32 |
| .23 | دا دعشق چي دومره زور دے | 33 |









| شمېر | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| .24 | پۀ یوگل کښې خو تش رنگ دے او بهاردے ( نظم) | 34 |
| .25 | یار چي بیا کړل تور باڼه په هنر پورته | 35 |
| .26 | عقل به ومني، جنون مې ژوند اسیر نه مني | 36 |
| .27 | کاروان روان دے، ژوند په رفتن دے | 37 |
| .28 | له به څو په اور ورتیرې د ځیگر سوز | 38 |
| .29 | ستا د زلفانو دا مستي مې په دار وخېژوي | 39 |
| .30 | ژوندون خو ای زړگیه د ارمانه سره خوند کا | 40 |
| .31 | سترگې سرې زما د یار بلې ډیوې | 41 |
| .32 | سپین بشرۀ ئې منور افتاب د حسن | 42 |
| .33 | کله یوه او کله بله، بهانې کا | 43 |
| .34 | وطن مو بدو سترگو ته سمسور نه دے پکار | 44 |
| .35 | خدای دې مۀ کړي په ایمان چي څوک غریب شي | 45 |
| .36 | غمگین ماښام ( نظم) | 46 |
| .37 | متې د جلال چي وي زور به د جمال یوسي | 47 |
| .38 | پۀ ائینه کښې وم هم وم د ائینې نه بهر | 48 |
| .39 | و سپین مخ وته دې دومره ډېر په ځیر شم | 49 |
| .40 | د گلشن و سبل ته ځي په گشت د گلو | 50 |
| .41 | ازاد نظم | 51 |
| .42 | د زړۀ پۀ کسو مې وکسه ، ډېر بې وسه یمه | 52 |
| .43 | هله راګوره، هله چي مرمه | 53 |
| .44 | جانانه ما د ژوند د رنگډارونو تصویرونه | 54 |
| .45 | راښکاره شه پستې شونډې گفتار وکا | 55 |
| .46 | یو ارمان ( نظم) | 56-57 |
| .47 | ستا غرونه غرونه غم نور پۀ زړګي نشم نیوے | 58 |
| .48 | کوم سپرلے دے چي مې گل پکښې بوی کړے | 59 |
| .49 | خاورې مې ارمان دے لېونے یمه | 60 |
| .50 | ستا په نامه مې شه اغاز سحر | 61 |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| .51 | یو رنګین غونډې ماښام وے ( نظم ) | 62 |
| .52 | مونږ دارته نۀ ګورو وطنه مونږه درته ګورو | 65 |
| .53 | دشت دے د ژوند د مزلونو وخت دے | 66 |
| .54 | چارې په ما مۀ کړه چې زه کړمه خپلې چارې | 67 |
| .55 | ستا په اوښکو مې دزړۀ شمع بلیږي | 68 |
| .56 | سپرلے او خزان ( نظم ) | 69 |
| .57 | پټ شوي دا له ذاته په سرونوکښې سرونه | 70 |
| .58 | وطنه کوم کهنډر دې وژاړمه | 71 |
| .59 | ستا د سترګو په نشه مست په دا بنګ زۀ | 72 |
| .60 | په فطرت کښې په حېرت کښې یم جانانه | 73 |
| .61 | دا قدر د انسان چې د حېوان نه شوکم ولے؟ | 74 |
| .62 | پۀ سحرکښې چې رندې ستا د جمال کړم | 75 |
| .63 | د سکول د ماشو مانو دپاره ( ترانه ) | 76 |
| .64 | کورینه رانګ دې که دې میز دې توس په غرۀ کښے | 77 |
| .65 | د جانان د لونګینو سترګو خوب یم | 78 |
| .66 | زه چې په سېل د کائنات ووځمه | 79 |
| .67 | شوندې پرانیزه په ناز | 80 |
| .68 | یاره اړوې چې په کوم لورې مخ | 83 |
| .69 | زه خو ستا د مستۍ بنګ یم | 84 |
| .70 | سکښې ماښام شو ، دریاب ودریږي ( نظم ) | 85 |
| .71 | بیا مې والوتے د خیال په دشته زانې | 87 |
| .72 | رند خو نۀ یم چې به تل درته سلام کړم | 88 |
| .73 | د ژوندون په دې لوی بحرکښې یو خس یم | 89 |
| .74 | زما د ترۀ زوئ د (نقیب الله شهید) په نوم | 90 |
| .75 | ګوټ راباندې وښنه مایوسي ساقي ګناه دے | 91 |
| .76 | دستا دوا دوا اوبۀ زما وطنه ( ترانه ) | 92 |
| .77 | شپه کښې رڼا د سپوږمۍ ستورو څۀ ، چې بربلیږي | 94 |
| .78 | نن له سحره څه قضا ډېره ده | 95 |
| .79 | چې حق حېران دمېخانې ورۀ کښې دې اودرولم | 96 |
| .80 | د یوې پېغلې سندره | 97 |
| .81 | د سوې زړۀ خبره چاته وکړم | 98 |
| .82 | بې مطلع غزل | 99 |
| .83 | وقتِ پیرې ( نظم ) | 100 |
| .84 | زوړ واسکټ زړه کمبله به رواخلم | 103 |
| .85 | زه خو بې مثله محبت پېژنم | 104 |
| .86 | قوالي | 105 |
| .87 | د حیا او د بقا دنیا ته ګورم | 107 |
| .88 | تنهائي ( نظم ) | 108 |
| .89 | راشه لږ واوره زما سترې غزل | 110 |
| .90 | پاکه خاوره (ترانه) | 111 |
| .91 | نغمه کړه پورته سرودنوازه | 113 |
| .92 | ای لمر مخیه ( نظم ) | 114 |
| .93 | دهجر شپه مې مېلمانه ده رانه څان ورک شوے | 115 |
| .94 | هر وګړي مو د قام که باهنر شي | 116 |
| .95 | هغه وخت هغه خبرے ( نظم ) | 117 |
| .96 | ستا د سپینو لاسو جام په ما روا شه | 119 |
| .97 | چاته مرووند، چاته شو قبر سکون | 120 |
| .98 | ببدار سړیه | 121 |
| .99 | داچې پورې په دې غرونوکښې مېشتۀ دي | 122 |
| .100 | باران پۀ غرۀ وربدۀ | 123 |
| .101 | شبنم که ګل وته ښکلا بخښله | 124 |
| .102 | ولې ؟ أزاد نظم | 125 |
| .103 | سبا بیا (نظم) | 126 |
| .104 | دګل د خاموشۍ نه وه د چا خاموشي زباته؟ | 127 |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| .105 | ای انسانانو!!!! (نظم) | 128 |
| .106 | دومره حسن ستا د سترګو په چينه کښې | 131 |
| .107 | په دې ورايه توره ډېره نوم زما دے | 132 |
| .108 | کبر خو دې زده دے (سندره) | 133 |
| .109 | راشه زاهده! چې خيال سر پورته کړو | 134 |
| .110 | لمر (نظم) | 135 |
| .111 | د خاکي آدم وجود ( معرا نظم) | 137 |
| .112 | تا د خيال پۀ لاسو ونيو ماته ګل | 138 |
| .113 | انسان خفه دے ( آزاد نظم) | 139 |
| .114 | مړي دې راپاڅي د ژوندو پۀ غم دې وژاړي | 142 |
| .115 | د خدايي تصوير (نظم) | 143 |
| .116 | وجودونه وو پۀ لار باندې روان وو | 144 |
| .117 | افسانوي خيال ( آزاد نظم) | 145 |
| .118 | دا چې سپرلے وغزيږي بيا | 151 |
| .119 | کله کله خو جام پورته شي له خونده | 152 |
| .120 | د نمرود سرکشي (نظم) | 153 |
| .121 | سبا تګ دے | 157 |
| .122 | مره کوشش کښې چرته ده کاميابي!!!نظم | 159 |
| 123 | همت (نظم) | 160 |
| 124 | مزل (نظم) | 161 |
| 125 | مونږه د دوران سترګي ليدلے دي | 163 |
| 126 | وحشته! (نظم) | 164 |
| 127 | چې بې سببه مې قلم پورته کړو | 167 |
| 128 | نابودي د خزان راغله دګلشن پۀ ګردون هسي | 168 |
| 129 | ولے نۀ ماپۀ دي قصه آشنا حيران پريږدمے | 169 |
| 130 | تر يو جهان ئي ګوره بل جهان دے هسي لوی | 170 |
| 131 | چې طلب ئي کوي دا حق د هغو دئ | 171 |







| | | |
|---|---|---|
| 132 | پۀ نرګس پسي بيماره لونګينه | 172 |
| 133 | مرګي خو حق دے چې مرګونه نۀ وے | 173 |
| 134 | ای وايه تر اوو اسمانو بره سمندره | 174 |
| 135 | د خيال ماڼۍ دې چې نسکورې نۀ شي | 175 |
| 136 | راځئ چې ببرته انسانيت معراج ته ورسوو | 176 |
| 137 | ما چې سم ګرانه دستا محبت کړے | 177 |
| 138 | شيخ ته!!!!!! أزاد نظم | 178 |
| 139 | راشه ملاجانه! د جنت قيصه يوخواته کا | 179 |
| 140 | بيا مغني چې پۀ نغمه د سحر لاس کړ | 180 |
| 141 | اشنا مونږ پۀ کړو لارو هم سم کوو مزل | 181 |
| 142 | زۀ خپله نشه لرم زۀ سرې سترګې پښتون يمه | 182 |
| 143 | چې نه پۀ تول وو نۀ پۀ تله پوره | 182 |
| 144 | سره ښکلے څواني دي د ليدو سره جوړيږي | 184 |
| 145 | ببازی عشق ميبازم دل و جان رافدا سازم (فارسي) | 185 |
| 146 | زه د عشق پۀ سر بازۍ کښې د خپل ځان ځنې تېرېږم ترجمه | 186 |
| 147 | از دير مغاں آيم بی ګردش صهبا مست | 187 |
| 148 | زه له مغان راغلم په تلاش ددې صهبا کښې مست | 188 |
| 149 | دنيا او قسمت | 189 |
| 150 | نن ئي پيمان د پيماني کړےدے | 191 |
| 151 | والوتے کونترې پۀ هوا کښې | 192 |
| 152 | چې د فطرت پۀ رنګينيو کښې يم | 193 |
| 153 | بې زړه طبيب ته مې زخمونه د ښودلو نۀ دي | 194 |
| 154 | او بيا ماښام شو ساقي | 195 |
| 155 | (( لنډ شعرونه )) | 196-209 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

هر سحر دې چې جمال نوې ظهور کا
څه سبب دے ، چې مې زړه نغمې د نور کا

که زاهد هم په سحرکښې اودس وکړ
برګِ ګل هم په شبنم د ځا ن طهور کا
جمعيت چې په وحدت کښې رنګ پېدا کړي
زما زړه خدايه ! حرم هم کوهِ طور کا
په هر لوري ترنم په هزار خور دے
که ذره ده ، اوکه مست سمندر شور کا

زه ثنا د هغه چا کړم اى پرېشانه !
چې ثنا ئې ونې ، بوټي هم طيور کا

✓

4.11.15





○

که جلوه ده اوکه نور دے
بندګي ده که طهور دے

د سکون تياره چې شته دے
چې د سپين سحر ظهور دے

که نغمه ده په ګلشن کښې
که د مست سمندر شور دے

دا معراج ، که راز ونياز دے
دا حرم که کوهِ طور دے

دا ادم دے که حوا ده
فرشته ده اوکه حور دے

دا هر څه له هغه مخه
چې نبي اکرم حضور دے

21 .9.16 ✓

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

کـه یـم پـه سـیوري کـه پـه لمـر خـوښ یـم
زه پـــه امېـــد کښــې د ســـحر خـــوښ یـــم

یـــو مســـلمان او بـــل پښـــتون یـــم ربـــه
د ســـوال روزي بـــد دے نهـــر خـــوښ یـــم

شـــته پـــه فـــراق کښـــې دوصـــال خوندونـــه
زخـــم پـــه زړه ، داغ پـــه ځیګـــر خـــوښ یـــم

ضـمیر مـې نـۀ پرېـږدي پـه ذات کښـې خلقـه
لـــه دې مجمـــر ځنـــې بهـــر خـــوښ یـــم

کـــه مـــې هنـــر د کېمیـــا نـــۀ زده پرېشـــان !
پـــه شـــاعرۍ پـــه خپـــل هنـــر خـــوښ یـــم

*27.1.16*





○

ســـتا خبـــرې د پـــام وړ دي
دا ســـــندرې د پـــــام وړ دي

غـم دې بـار پـه میـځن مـۀ شـه
ملغـــــرې د پـــــام وړ دي
ای وطنـــه دســـتا لـــوړې
شـــنې ژورې د پـــام وړ دي
پـــه قـــلا دې د چشـــمانو
ښـــې لښـــکرې د پـــام وړ دي
د شـــاهین د نظـــر ســـترګې
ســـرې وزرې د پـــام وړ دي
چـې لـه مرګـه انسـان ژغـوري
واللـــه زغـــرې د پـــام وړ دي

هـو ،نـران مـو پـه تـاریخ کښـې
شـــاباش نـــرې د پـــام وړ دي

*24.1.16* ✓

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

بیـا وخـت د تقاضـې جـوړه کـړه لار پـه ائینـه
چـې پـروت پـه ائینـه کښـې دې غبـار پـه ائینـه

راشـه د زړه کـور تـه مـې په سـترګو کښـې راتېر شـه
بیـا را چـې د مـودو نـه شـي بهـار پـه ائینـه

تـور مـخ به دچا ولې پکښـې سـپین ښـکاري ملګـرو
مـا کـړے پـه پښـتون ضـمیر ډېـر کـار پـه ائینـه

پـاکې دې سـرې شـونډې کـړے زمـا پـه لمـن پـورې
وچـا دي رنګـولي سـرهٔ خمـار پـه ائینـه

پرېشـانه ستا په خلهٔ نـن!!!! دا تـور د چپ مهرونـه
حېـرت دے پـه معنـا کښـې هسـې وار پـه ائینـه

23.1.16 ✓



د لفظونو په سینو کښې　　پرېشان محسود

○

چـې ځنځیـر نغمـه نغمـه شـو
د زړهٔ ویـر نغمـه نغمـه شـو

ژونـد دچـا د خیـال پـه متهـو
پـهٔ تکبیـر نغمـه نغمـه شـو
چـې زمـا پـهٔ زړګـي ښـخ شـو
هغـه تیـر نغمـه نغمـه شـو
په خطا کښـې ئې خدای یاد کړ
راشـئ، پیـر نغمـه نغمـه شـو
پوسـت نظـر مـې سـتا و مـخ تـه
چـې شـو ځیـر نغمـه نغمـه شـو

د پرېشـان د قلـم ذوقـه
سـتا صـریر نغمـه نغمـه شـو

20.11.15 ✓

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

*مخ دې د کتو شو او که توان مې نظر اوموند*
*ښکلې چې وو خیال ښکلې عنوان مې نظر اوموند*

*ما خو تصور د رسوائې کړو لرې لرې*
*خلۀ په خلۀ رسوا شوم چې سامان مې نظر اوموند*

*څۀ وو کائنات خو تصور ستا د هستۍ وو*
*لمر ته مې نظر کړ، که رڼحان مې نظر اوموند*

*څنګ سرغړونه ای اشنا دخپل جمال نه کړې*
*نن چې ائینې ته ستا نظر مې حېران اوموند*

*بند مې که وه خلۀ د اورېدو غوږونه نۀ وو*
*ګورم اوس پرېشانه ! چې بیان مې نظر اوموند*

*13.10.15* ✓





○

*حسن لېوني وېل چې د زړونو سینې څیرم*
*ما وېل چې جنون یم د رازونو سینې څیرم*

*راغې په خندا بورا وئیل چې کار مو یو دے*
*تۀ ، هغسې زۀ هم د ګلونو سینې څیرم*

*هیڅ مې نۀ وو لاس کښې خو چې عزم وو ملګرو!*
*دا یم اوس لګیا یمه د غرونو سینې څیرم*

*خلک دې طلب د ګوهرونو کا په سیند کښې*
*زه پۀ دې خبر یم د لفظونو سینې څیرم*

*ټول مطلب مطلب دے هیڅ طلب د وفا نشته*
*راشه ګني اوس د الفتونو سینې څیرم*

*عشق یمه پرېشانه! د فراق سوې نغمه یم*
*څړیکه یم د درد د پرهارونو سینې څیرم*

*14.10.15* ✓

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرض مې ستا د عشق چې د ځيګر سره شو غاړه
لړمون مې وينې وينې د پرهر سره شو غاړه

وعده ستا دراتلو وه دتياري په امکان پاتې
امېد مې لکه شمع د سحر سره شو غاړه

رازونه شول نبضونه، او بيا توري لکه ستوري
نظر مې چې اشنا ستا د نظر سره شو غاړه

خپل ځان کړه د ښو خلقو په تهولي کښې ځلند ستورې
وجود د سپوږمۍ چا ليد خو د لمر سره شوِ غاړه

کوومه دمکانه لا مکان سره خبرې
چې دا لېونې سر مې د منبر سره شو غاړه

شاهين هله شاهين شو چې نظر ئې اتشين شو
ژوندون ئې چې پرېشانه! د خطر سره شو غاړه

/8/2015





چې مې تللے ښکلے يار دے له اغوشه
دقرار شپه مې اونۀ مونده مدهوشه

مسته خياله تا ياري راسره پرېښوه
ښې لمحې دژواندانۀ مې شوې بې جوشه

ائينه څه له فطرته وه حېرانه
څه په مړاوو کتو يار کړله بې هوشه

چې ديار د مخ پشان ګل پکښې نشته
څۀ، که پلورې ډېر ګلونه ګلفروشه

چې ئې ورځ کړه د ژوندون د تلاش چغه
دا کمال دے چې ئې شپه کړله خاموشه

زه د داسې قام شاعر يمه پرېشانه!
سر تر پا دے چې بې نښه او بې ګوشه

26/7/15

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

دا عشق مې مستانه وو که په ساز کښې وه مستي
زما وچه تنه کښې که شهباز کښې وه مستي

دا سترګې د موسی چې کوهِ طور کښې رڼاويني
دا غرهٔ کښې مستي نهٔ وه رازو نياز کښې وه مستي

اوس ناست يم د ذرې ذرې وجود سندرې وايم
يو وخت وو چې ځواني وه په هر ناز کښې وه مستي

نظر چې شاهيني وو او فکرونه عقابي وو
نشيب کښې وه مستي او په فراز کښې وه مستي

پرېشانه ! عشق مې څهٔ وو ؟ خو په حسن پسې مرګ وو
انجام ئې څومره تريخ دے په اغاز کښې وه مستي

25/8/15





○

ښکلې زړه ښکلې نظر لرم ځل مخے
بارې ! زهٔ هم دلبر ولرم ګل مخے

زه سړے يم د يو مخ ديګرګون نهٔ يم
خوښ مې هيڅ شه لکه ته هسې شل مخے

طبعيت چې دسړي ورته رند رند شي
خلکه ! څوک دے ؟ دا نشه نشه مُل مخے

ځکه مخ مې کړو غزل ته چې مې کار وو
چې ستا خيال راوربدلو غزل مخے

خپل مخي به ئې چې کړله په ښې ورځې
ورځ چې بده په ما راغله شو غل مخے

زه پرېشان ترېنه وېزار يم په سل مخه
زمانه راته ښکاره شوله بل مخے

18.6.15

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ځواب د ولے چې شي ولے پاتې
وائي سرېے، سرېے شي غلے پاتې

چې پکښې یار اوسي، هغه کلي کښې
کشکې چې زه هم شوای یوځلے پاتې

په دې سنګر سنکر ماحول کښې خدایه!
له هر وګړي شو کورکلے پاتې

لالیه چرته لاړې بیا اوخانده
د زړه پرهر مې شو ګنډلے پاتې

رندانو لوټ کړو ترې د مُلو محفل
شیخ پکښې بیا شو خدای بخښلے پاتې

په ژوند ئې ځومره وو یاران پرېشانه!
نن په مزار ئې شو یو ځلے پاتې

13.6.15





○

ښه ده چې سر ته ارمان اونهٔ رسي
زړګیه مرګ دې په ځان اونهٔ رسي

رېباره څه معنا ؟ دا هسې ګیلې
یَوه ګیله تر جانان اونهٔ رسي
وړې وړې د طنز خبرې اشنا
بائد زمونږ تر خفګان اونهٔ رسي
شي د وحشت تورو تیارو کښې پاتې
ځنې قیصې تر بیان اونهٔ رسي
نظر وعقل دې د پښو لاندې دي
سر دې رښتیا تر اسمان اونهٔ رسي
زما غزلې ، د دوران خبرې
څه ! چې اوس څوک په دوران اونهٔ رسي
وحشته! ستانه به اوباسم سترګې
لاس به مې ستا تر ګرېوان اونهٔ رسي

د خوار پرېشان ارمان چې نهٔ وي پوره
ستا ترکمڅو به ګلان اونهٔ رسي

12.6.15

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

زما يار لېونے ګورئ ، چې په شپه ځي
نهٔ پوهېږم ، مرور دےکه پخله ځي

د اوبو راوړل زحمت شو له ګودره
اننګي ئې په سپين خوَله ځي

بس راځه چې په خپل لور د لمر خاته ځو
لکه لمر شي هسې ډوب چې په قبله ځي

دا ادب د مېخانې نهٔ دے ساقيه !
چې رندان دي له محفل خفه خفه ځي

که دا راز چاته معلوم وي ؟ چې خبر شواى
له وجوده روح په کومه بهانه ځي

چې د لارې مل مې ئې شور خو به اورې
ځوان پرېشان خو تل د خيال په هنګامه ځي

12.6.15





○

زه د ستا په غم کښې ژاړم او تهٔ خاندے
لېونے شوے راشه زيرے مې دربانده

غر د زړه مې چې له ډېره سوخته وچاود
شوې روانې ترې چينې د وينو تاندے

قيصه څنګ د مئينتوب شوه درنه هېره
چې کتل به دې پټ پټ د بانو لاندے

د ادم نسل کشي پرېږدوه بس دے
جنګه! تا خو کړلې بورې زښتې ميانده

هسې تش په نامه ژوند دے د سندرو
زندګي مو دا د زړونو ساندےساندے

د پرېشان د خيال چينه شوه شکرينه
ښاپېرۍ ورته رادرومي لالهاندے

11.6.15

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بانو څوکې دې اشنا په پردو زړونو لګي
لېږ خو احساس کړه چې بې دربغه په زخمونو لګي

ولې دا زه څه لېونے شومه؟ چې سر مې خوږ شو
کاڼي خو تل د لېوانیانو په سرونو لګي

لمانه ښهٔ دے تور بورا تقدیره تهٔ څهٔ وائې؟
کله نا کله خو ئې شونډې په ګلونو لګي

د خیال کاروان کښې مې سوارې تل د جمال ښاپېرۍ
څوکه ئې یو سر او بل سر په سرابونو لګي

پرېشان محسود د هغه ځای یمه په ویاړ چرته چې
غرونه په وریځو ، د نښتر څوکې په غرونو لګي

9.6.15





د غزل شپه ده غزلزار یمه نن
سبب ئې دا چې بې قرار یمه نن

د لېونتوب په دائره کښې عقله!
واه ، څومره ډېر درنه ووزګار یمه نن

ولے په مینه دې سرې شک اوکړي
د یار به یار وم چې ئې یار یمه نن

شېخه دا تهٔ یې چې کړې داسې توبې
له دې توبو دې توبه ګار یمه نن

پرون مې نهٔ ښل چې بې لارې ومه
ځکه یې ښمه چې په لار یمه نن

د سمندر په کناره شوم بې سود
ځکه پرېشان ترېنه کنار یمه نن

9.6.15

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

وختونه اړول نهٔ دي دي دهر کښې ژوندون دے
راوځه له خلوته چې روښانه سباوون دے

تهٔ ولے هسې نیسې د هر پیر مرید لمنه ؟
د ذات په ائینه کښې ستا د خدای سره تړون دے

راځه چې د وختونو سلسلې تمبوو شاته
په دې کښې چې زمونږه نن، سبا او هم پرون دے

تقدیر به مې په برخه تل نغمې وي زېږولې
زندانه! چې مې ستا په ځنځیرونو کښې ژوندون دے

اسمانه! دا شوخي ده او که راز چې نهٔ نړېږې؟
پېدا وې چا دپاره ، او د چا سره دې یون دے

وحشته! که پرېشان دې د سودا سره اشنا کړم
زما به ډېرې واورې چې زما ایمان پښتون دے

9.6.15





○

پوهېږم نه هستي او که زما د مستۍ سوال دے
د سپین جبین دلبره! تهٔ چې شته ئې، سپوږمۍ سوال دے

زما د قام بچي ئې چې په خوب کښې هم نهٔ وینې
په وینه ستا د لویو وړو لاس کښې ډوډۍ سوال دے

ماهسې پښتنه لیلۍ ګنړله خړه پړه
چې ځیر مې ورته پام شو، په رښتیا ښاپېرۍ سوال دے

زما غزل چې شته دے د دوران په کپرۍ کښې
دا سترګې ژړغونې د ببوسه هوسۍ سوال دے

په نیمه شپه بازار کښې ګرځېده خبر ئې غوښتلو
د دور په جدت کښې دا سپین سرې بوډۍ سوال دے

ما وېل ،مېمونۍ! ما سره ته خومره محبت کړې؟
وئیل ئې ،شېرعالمه! د پخوا مېمونۍ سوال دے

6.6.15

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايم درته وايم خو خبرې ته مې پرېږده
ستائمه تا ستائم خو سندرې ته مې پرېږده

خيال کښې مې راوړې د فکرونو دردانې دي
ښائم درته ښائم ملغرې ته مې پرېږده

سپينه خلهٔ مې توره شي که توره خلهٔ مې سپينه
دا يم نهٔ په دا يم بس ګورګورې ته مې پرېږده

نهٔ يم چرته تللے د بانو څوکې دې ښکل کړم
دا يمه بس دا يم دې لښکرې ته مې پرېږده

زهٔ الوزوم دلته د خيال مستې کوترې
پائم دلته پائم دې ژورې ته مې پرېږده

وينه ګرموم کړکسې نهٔ کړم اې پرېشانه!
باز يم که عنقا يم خو کوترې ته مې پرېږده

5.6.15





ښکته څهٔ دي ؟ بره څهٔ دي؟
کائنات له سره څهٔ دي؟

دومره غټې غټې اورم
په وړه خبره، څهٔ دي؟

چې دې جوړ کړم الوتو ته
بيا د خيال وزره څهٔ دي؟

په قلم دې ډېرې وکړې
توپک ماره نره څهٔ دي؟

په تازه کښې بې ټوپکه
بې له دې سنګره څهٔ دي؟

نهٔ واړې پرېشان بره
چې له دې نه بره څهٔ دي؟

4.6.15

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

دا دعشق چې دومره زور دے
وایه، بس عقل رنځور دے

د سکون تیاره له شته دے
له د سپین سحر ظهور دے

د حېرت په فلسفه کښې
آګهي وایي چې اور دے

دا زما سپین مست دلبر چې
خدایه ولے هسې تور دے

دا په تېنګ کښې چې تکور دے
ځکه دلته تېنک تکور دے

دا چې اوسي تل په خیال کښې
د پرېشان دغلته کور دے

23.5.15





## نظم
## (مالیار او زه)

په یوګل کښې خو تش رنګ دے او بهار دے
ما وېل پټ په کښې وجود سینګار سینګار دے

وېل ئې ګورم دا وجود ، دا ازغي لرکړه
ما وېل تګ هم دې وجود ته په دې لار دے

وېل ئې څۀ دي که یوګل په غوړېدو شي
ما وېل دغه تبسم کښې خو خمار دے

وېل ئې څۀ وشو، که لپه اوبۀ ورکړم
ما وېل خدایه نااشنا کار خو لوی کار دے

وېل ئې ښایه ، راز د ګل د وجود څه دے؟
ما وېل، دا بیا مصور سره ګفتار دے

هر تخلیق پسې پټ لاس د تخلیق کار دے
هر یو څیز د کائنات د دۀ شاهکار دے

5.4.13

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

یار چې بیا کړل تور بانۀ پۀ هنر پورته
سرۀ خنجر ئې کړل زما له ځیګر پورته

خلک زر پورته کوي مرغۍ ویشتلے
تا ویشتلے مارغۀ نۀ کړلو زر پورته

اسوېلي ما که د خلے نه په وتو شول
له حجابه به شي مخ د سحر پورته

تا چې هم کړلو زما نه مخ بل لورته
ما هم بس له خپل ځنکون نه کړو سر پورته

ژور فکر هم بلها ښۀ دے پرېشانه!
ولے هغه دے شاهین شولو بر پورته

۲۰۱۵





○

عقل به ومني، جنون مې ژوند اسیر نۀ مني
دا ژوند پرست ذهن مې ځکه له ځنځیر نۀ مني

شعور مې هم د ازادۍ سندرې وایي په ناز
زړه خو بیا هم ډېر مهربان دے، خو ضمیر نۀ مني

دا داسې سترګې دي چې خوب کړي په بېدارو کسو
خوب او شوګیر دواړه مني، خو یو تاثیر نۀ مني

زړه مې د قام د سر لوړۍ دپاره هر څوک مني
چې بغاوت کړي داسې مشر او مشیر نۀ مني

زړه مې اوس داسې ایمان راوړو ستا په سپینو ګوتو
د ستا د لاس زهر مني د بل عصیر نۀ مني

زه که پخپله ډېر پرېشان یم هیڅ پروا نشته دے
خو دا ملال خاطر مې بل خاطر دلګیر نۀ مني

21.8.08

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

کاروان روان دے، ژوند په رفتن دے
يو څو شېبې دي، بيا ځنکدن دے

مزل د عشق خو، تر دې رسا کړم
چې مې انجام اوس، دار و رسن دے

ژړېږم ځکه ، قيصې دي نورې
نغمه سرابلبل، رازِچمن دے

لار رانه ورکه، ځان رانه ورک دے
نا اشنا ښار دے، پردے وطن دے

غم دې راليږه، غم به ئې نۀ کړے
پرېشان له ځوان دے، په تا مېئن دے

۲۰۱۳





○

له به څو په اور ورتيږي د ځيګر سوز
زړۀ سوزيږي، سترګې هم کا، هم نظر سوز

دا زما د دې پښتون ضمير اواز دے
پښتونخواه مې چې د زړۀ کا د محشر سوز

غم چې هم نۀ شي په زړه د ځائېدلو
سينه هم دننه خوَړکا، هم بهر سوز

خدايه! دا له د کوم دور نه تېرېږو
فن پارې د حسن سوزي کړي هنر سوز

پرېشان! ځکه مې مازغۀ وکړي هم سر سوز
چې د وخت په سرو غرمو کښې وکړي لمر سوز

۲۰۰۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ستا د زلفانو دا مستي مې په دار وخېژوي
د محبت ځواني مې سره په انګار وخېژوي

خپل خو زما غوندې ساده ئې خو افسوس دلبره
دا رقيبان دې په قربان او په زار وخېژوي

ستا د دروغو په لوظونو میئن خپلې ځوانې
لکه منصور د ځان سره انتظار وخېژوي

د ستا د سترګو دغه سرې بلې ډيوې جانانه
زمونږ په سترګو کښې د مينې خمار وخېژوي

پرېشان خو وخوړو د قام غم ګني څۀ قيصه ده
جګه شمله به په خپل سر د وقار وخېژوي

18.10.2006





○

ژوندون خو ای زړګیه د ارمانه سره خوندکا
يو دوه شپې دې وي خېر، خو د جانانه سره خوندکا

ګیدړ او شرمښان دی چې ازادګرځي په غرو کښې
زمري خو بنديوان تل د زندانه سره خوندکا

خالونه ئې شنه شنه په سپينه زنه داسې ښکاري
په شپه کښې لکه ستوري د اسمانه سره خوندکا

بس پرېږده چې جانانه ټوله شپه وو غاړه وتې
د مينې تاودې شپې خو د بارانه سره خوندکا

په سترګوکښې ئې دومره قدر نۀ وي ای پرېشانه!
دا اوښکې لکه څومره دګرېوانه سره خوندکا

شوال (پش زيارت) ۲۰۰۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستركې سرې زما د يار بلې ډېوې
انګې لكه انار بلې ډېوې

سور پېزوان ئې په دې پوزه داسې ښكارې
لكه وي چې په مزار بلې ډېوې

د لبلې د مخ رڼا ځان سره يوړه
منصور پاس كړلې په دار بلې ډېوې

تا ديدن د تورو شپو ستركو را نۀ وړو
ما كړې هسې ستا په لار بلې ډېوې

پرېشان بيا ورته د زړه مجمر كښې كېښوې
هسې سرې د انتظار بلې ډېوې

شوال (ګربز) ۲۰۰۶





سپين بشر ئې منور افتاب د حسن
زه ئې وسوم لوغوړن كباب د حسن

تۀ چې وائې چې پلو ئې له مخ لركړ
توري زلفې خو ئې شته نقاب د حسن

دا يو ما تري څنګه سر په سراب اېښې
نوشوي نور په متكۍ شراب د حسن

دا چنار چنار ځواني دنګه درازه
ورته وايي هر ښائيست جناب د حسن

زما زړه پكښې لاهو كړ تلې تلې
په خپو ئې شو د ناز درياب د حسن

د خپل خوار قسمت سندرې پكښې وايي
پرېشان ځكه غروي رباب د حسن

۲۰۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله يوه او کله بله، بهانې کا
دا زما د باغ بلبله افسانې کا

د پردېس بلبل که نۀ کوي خبرې
تۀ خو ای د وطن ګله لږ قيصې کا

کله کله د غصې نه سره لمبه شي
مهربانه شي بيا کله اشارې کا

دستا چم ئې ټول زما په وينو سور کړو
تۀ اوس ياره د محله ننداري کا

چې نظر د بدو سترګو دې واخلي
ای د ځوان پرېشان غزله سرې لمبې کا

۲۰۰۷ (شوال)





وطن مو بدو سترګو ته سمسور نۀ دے پکار
وطن ته د ګلونو ، ګله لور نۀ دے پکار

جانانه ستا په مينه کښې که ډېر هم ګنهګار يم
اخېر هم مسلمان يمه دا اور نۀ دے پکار

پښتونه حق او رزق په نارو نۀ شي ګټلے
تدبير محنت پکار دے او دا شور نۀ دے پکار

اغياره خپله خاوره خپل اختيار به سره پالو
تر څه مودې وسېږه ګور کور نۀ دے پکار

واعظه! ته د دغه حقيقت نه مبراء ئې
په توره لمن سپين، په سپينه تور نۀ دے پکار

پرېشانه د زړه خونه به دې ټوله کړي درما ته
د مينې د پېريانو سره زور نۀ دے پکار

۲۰۰۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

خدای دې مهٔ کړي په ایمان چې څوک غریب شي
که اسونه زغلوي خاورې نصیب شي

عاشق کله په علاج د ځان پوهېږي
چې د عشق رنځ کړي تبر هله طبیب شي

چې په ژوند یار ته د یار اواز اونهٔ کړي
پس له مرګ ئې که په قبر عندلیب شي

تضاد نهٔ دے د خیالونو هم اهنګ دے
چې په ښکلي جانان مل د چا رقیب شي

غافل قام به پرېشان کله بېدار نهٔ که
که هر څو په منبر بر کښېني خطیب شي

۲۰۰۸





( غمګین ماښام)

څه تور ماښام دے
څه تنهائي ده
بې قراري ده
د پرېشان یاره کنه !
سترګې راپورته کړه لږ
لږ په دې لور وګوره
زما په لور وګوره
چې لږ یقین راشي
زړه ته تسکین راشي

۲۰۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

متهې د جلال چې وي زور به د جمال یوسي
نه ګني دا خیال به دې تش بې معنې خیال یوسي

ځي چې څوک خپل یار وته یوسي معتبر سوغات
ګران دے په هر چا چې څوک عجز د کمال یوسي

څۀ دي جهنم کښې خو؟ هسې شاړه زمکه ده
دا خو بس انسان دے چې ځان سره وبال یوسي

پټ دے حقیقت د ژوند سترګو پټېدلو کښې
ښکلے مرګ قاصد دې چې یار ته په وصال یوسي

راز د کائنات به شي څنګ ورته ښکاره پرېشان!
ډېر د لټون تږي به بیرته دغه سوال یوسي

21/1/16





○

په ائینه کښې وم هم وم د ائینې نه بهر
په زمانه کښې ګرزېدم د زمانې نه بهر

ساقیه هېر به دې شي حجم دپیالې او د جام
راشه دا خپل ظرف دې کړه تول د مېخانې نه بهر

یوه هستي ده چې الست پرې د هست څښې شي یقین
نور که هر څو ووځم د دهر ویرانې نه بهر

معصومو خلقو ځان ته ور د زندان خپل خلاصوهٔ
دا ژوند رښتیا وو دومره تریخ د جېلخانې نه بهر؟

نۀ وو نور څۀ پرېشان ئې چل د غونډولو زده وو
هم دا لعلونه وو پراتۀ د خزانې نه بهر

/2/ 2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

و سپین مخ وته دې دومره ډېر په ځیر شم
چې د خپلې حېرانۍ ځنې ظهیر شم

د مستۍ انجام مې ولیدو چې څۀ دے
دا چې کله کله زۀ هسې فقیر شم

چې بقا د دهر وینمه پرېشان شم
په ګلشن کښې د بلبل پۀ څېر پۀ ویر شم

ژوند خرمن د ژوندي اوښ ده پۀ معنا کښې
ای همته، که تبرۀ ورته د تیر شم

زۀ د ښۀ او بد پۀ مېنځ کښې یم پرېشانه!
ګهنګار به یم خو دومره نه چې پیر شم

*2/ 2016*



د لفظونو په سینوکښې — پرېشان محسود

○

د ګلشن و سېل ته ځي په ګشت د ګلو
مست چغار ئې بدرګه دے د بلبلو

بې رُخي او شوندېې بُڅې تر هغې کا
څو چې پورته شنه پیاله کړمه د مُلو

ستا غمونو مې پۀ زړۀ کړے پنجې ښخې
د منګولو لښکر کار کا پۀ مَنګولو

نن مې لېږ پۀ الهامي نظر وستایه
تر څو ستائم به دې زۀ پۀ شنو غزلو

بې دیاره ئې طبیب وته چې بیائې
د پرېشان مرض کار نۀ دے د دُرملو

*2/2016*

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظم

کائنات
ارض و السموت
اُور اوبهٔ او حیات
نباتات او جمادات
،، پهٔ نظرکښې د هغه ذات ،،
هیڅ
،،خو،، له نظره د هغه ذات
دا همه واړه ذرّات
بائد
شتمن شي پهٔ خپل ذات

29/ 12/ 14





د زړهٔ پهٔ کسو مې وکسه ، ډېر بې وسه یمه
مهٔ کړه ستم دلبره کسه، ډېر بې وسه یمه

یو لاس مې ځان ته دې ورکړې بل مې تهٔ درنیسه
د سمندر سینه کښې خسه، ډېر بې وسه یمه

یو خوا انسان یم چې مې غوښې د خوراک نهٔ دي نو
بل د غریب د بچي نسه، ډېر بې وسه یمه

خپله ضمیره ! دا منم چې ګنهګار یمه ډېر
ای خپله خیاله مقدسه ، ډېر بې وسه یمه

زهٔ خو فنکار وم غبر مې اوری خو فریاد مې واورئ
ای زما قام زما اولسه، ډېر بې وسه یمه

د پرېشان زړهٔ خو لکه یو سل چاودبدلي زړونه
ای دا تهٔ یو بیمار نرګسه، ډېر بې وسه یمه
2/ 2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

هله راګوره، هله چې مرمه
د سترګو توره، هله چې مرمه

هله! چې وایي، غریب سړے ئې
له دې پېغوره، هله چې مرمه

هلته ژوندونه ، پهٔ خاموشی کښې
های دلته شوره، هله چې مرمه

یاد د جانان مې، پهٔ زړهٔ اړې کړم
د هجر زوره، هله چې مرمه

پرېشانه یاره، شومه سرتوره
پهٔ رواج توره، هله چې مرمه

2/ 2016





○

جانانه ما د ژوند د رنګذارونو تصویرونه
جوړ کړي مې د وخت پهٔ پرهارونو تصویرونه

وخت څومره مصور دے او شاعر څومره عکاس دے
زده کړي دي چې چا ترې د لفظونو تصویرونه

تهٔ خبر کړې لویه خدایه ای د امن لویه خدایه
حالات بیا وروي نن د اورونو تصویرونه

پهٔ تک شنهٔ پسرلي کښې هم امکان د خزان شته دے
پهٔ وینو مې لیدلي د ګلونو تصویرونه

خوارهٔ وارهٔ پراتهٔ نوکارې شوي د ژوند دشت کښې
پرېشانه ستا د فکر د خوبونو تصویرونه

۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

راښکاره شه پستې شونډې ګفتار وکا
تورې سترګې په زړګي مې ګذار وکا

خبر دے بیا مې بیا بیا وژنه پروا نشته
ژوندې کېږم چې بیا بیا لږ خو وار وکا

د ځوانۍ نوکارې ښخې کړه شور وکا
د دړد فکر کښې مې بیا سوې لار وکا

د ژوندون ستړے نوم واخله سر زخمي کړه
د رواج دغم پنجره کښې چغار وکا

خدای ځواني او بل مستي تاله درکړي
پسرلےدے نن خو ست د خمار وکا

د ژوندون د غم رباب نغمه راوړي
ای پرېشانه! د ارمان یکه زار وکا

6/6/2007





## یو ارمان

چې تنها ناست وم
او نیمه شپه وي
شمع بلیږي

د جاړی شپه وي
سکروټې سړې وي
سپې نه غپیږي

راتلوني شپه مې
هم په خپل کور وي
زړه مې نه لویږي

ناست په خپل خیال کښې
په خپل جهان کښې
سوچ مې ډوبیږي

بیاض په لاس کښې
قلم په ګوتو
شعر سازیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېـــــر ارمانونـــــه
دا هـــم ارمـــان دے
دا یـــو ارمـــان دے
دا مـــې ارمـــان دے

۲۰۱۴





ستا غرونه غرونه غم نور پهٔ زړګي نشم نیوے
وعدې دې د خزان او د سپرلي نشم نیوے

رادرومه که رادرومې دغه وخت مې د مستۍ دے
تېرېږي دورانونه بس ځواني نشم نیوے

آخېر اشنا زهٔ پېغله پښتانه یمه شرمېږم
لاسونه درته نور پاس په منګي نشم نیوے

بس دومره لار څارله شي بس دومره انتظار شي
ما وژني خاموشي ستا، تنهایي نشم نیوے

پرېشانه بس دے نور د پسرلو وطن ته راشه
دا ګل ګل ارمانونه په مرګي نشم نیوے

2005 باړه خېبر ایجنسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم سپرلے دے چې مې ګل پکښې بوی کړے
هرسپرلي کښې مې چمن د زړه سوی کړے

يو سپرلے نهٔ دے چې زه ترې بېنوا يم
هر موسم راسره دا رنګه خوی کړے

ماله نهٔ راکۍ غُنچې د ګل د شونډو
د ګلونو لالا چا راته پوی کړے

د خزان سیلۍ رالوتې په څهٔ شر وه
چې له لاسه ئې زما ډک جام توی کړے

پرېشان تېر کړل تل په پټه خلهٔ وختونه
څوک دې ووائي که چاته ئې ګوی کړے

/2009





خاورې مې ارمان دے لېونے يمه
څيرې مې ګرېوان دے لېونے يمه

نور خو ای زړګيه په دې کلي کښې
عمر راته ګران دے لېونے يمه

مړې د لحد راځنې بیا غواړي
زړهٔ څومره نادان دے لېونے يمه

ورانه د قرار خونه مې ورانه ده
اُور راته جهان دے لېونے يمه

څه ئې په غمونو کښې رانغښتې يم
وخت بیا سرګردان دے لېونے يمه

هغه تېر وختونه چې راياد کړمه
دا خو بس دوران دے لېونے يمه

2006 ( پش زیارت . شوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په نامه مې شه اغازِ سحر
چې مستا نه وي نغمه، سازِ سحر

پرېږده شبنم چې راوريږي فطرت
د ګل وجود څهٔ دے خو نازِ سحر

مهينه ياره! چې ستا مخ مې وليد
بس دے نور څهٔ کړمه جوازِ سحر

د هر ذي روح په مخ ممڼ تبسم
څه په پرده کښې دے اعجازِ سحر

لمر هيڅ جواز د سحر نهٔ دے پرېشان!
دجرس غبږ دے ګوره رازِ سحر

15.5.20





## نظم

يو رنګين غوندې ماښام وے
د غمونو قتل عام وے
ياره ستا لاس کښې پياله وے
او زما لاسو کښې جام وے

زه په خپل فکر وخيال کښې
ستا د ياد تر کلي لاړ وے
ستا خواره واره زلفان وے
زه ئې سيوري ته ولاړ وے
د چينې د چنار شور کښې
سره غرمه موسم د هاړ وے
د غمونو د زړه کلي
غبر اباد او وران ويجاړ وے
د يو نوي ژوند په لاره
مونږ اخيستې نوے ګام وے
ياره ستا لاس کښې پياله وے
او زما لاسو کښې جام وے

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د سروګلو چمن وي
د خوبانو انجمن وي
په هر لوري خوشبوئې وي
سپرلې خور په ټول وطن وي
هر چا یو بل ته کتلې
په یو بل باندې مئین وي
د خیالونو په دنیا کښې
پروت د یو بل په لمن وي
ما یو تهٔ په لاس نیولې
چې د هر چا مونږ ته پام وي
یاره ستا لاس کښې پیاله وي
او زما لاسوکښې جام وي

زه د مینې په خوب مړ وي
یاره ستا سپینه ځنګل کښې
ډک د مئیو جام په لاس کښې
ځنګېدلې په محفل کښې
ما د زړه د باغ ګلونه
وي ټومبلي ستا اوربل کښې
د جنون تر حد رسا وي
ستا د زلفو په ځنګل کښې
توري شپې چې لېونې وي





هم سحر کړې سلام وي
یاره ستا لاس کښې پیاله وي
او زما لاسوکښې جام وي

چې د غرهٔ لمن کښې ناست وي
د شپونکي خوا ږه شپېلۍ وي
ما دې غبېږ له زلفو ډکه
تهٔ مې غبېږ کښې لېونۍ وي
لوپټه دې رپېدلې
د باران خوا ږه سېلۍ وي
ستا په سترګو کښې خندا وي
سرکې شونډې دې مسکۍ وي
زهٔ هم ټول شباب وي
تهٔ هم مسته په ځوانۍ وي
اضطراب نهٔ وي پرېشانه
تفکر مې په ارام وي
یاره ستا لاس کښې پیاله وي
او زما لاسوکښې جام وي
۴۰۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ دارته نهٔ ګورو وطنه مونږه درته ګورو
وطنه ګوره! درته ګورو مونږه درته ګورو

مونږ د بې ذوقه او بې شوقه ملګري نهٔ کوو
مونږ د کار خلک یو مونږکار ته او هنر ته ګورو

مونږخو لالیه د لټون په لار تل مخکښې ګورو
ګمان دې مهٔ وشه په مونږه چې به بېرته ګورو

مونږ د جمال لېوني ګورو تل و مخ ته د یار
نور خبر نهٔ یو چې بل چرته ګورو چرته ګورو

وایه پرېشانه ور ئې خلاص که ور ئې بند وي ورته
مونږه ئې بیا هم ورهٔ ته ګوروګوره ورته ګورو

20/ 5/ 2016





دشت دے د ژوند د مزلونو وخت دے
وخته! د نوو پړاوؤنو وخت دے

شبخ د غلهٔ یار شو د سبا په خاطر
راشه د نویو قربتونو وخت دے

د سپینوګوتو ئې برېښنا وینمه
په سمه لار د تیندکونو وخت دے

بې وعدې راشه چې دیدن دې وکړم
ستا په وعده کښې دکالونو وخت دے

په کومه خلهٔ ورته سپرلےاووایم
بس دے راځه خو د ګلونو وخت دے

فکرونه غواړي تغزل پرېشانه!
د مستو غزلونو وخت دے

24.5.2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

چارې په ما مهٔ کړه چې زه کړمه خپلې چارې
عشقه! ستا رخصت ښهٔ چې زهٔ ځم په بلې لارې

دغــه چې ئې رازِ کائنات تـل سـروکار دے
ډېر کا دا لټون که چرته ما پکښې وشمارې

وایه د زړهٔ سره چې دې سر د زړګي نهٔ یم
لارې مې تر نیمو شپو بیا هسې ولې څارې

بار دې د یادونو پما بار وے ګوشي ناست وے
یو ناځاپي راغلے په ماښام کښې بارې بارې

ګرځې که پرېشان پسې ترې ډېره طمع مهٔ کړه
عقل له ځان زده کړه وکم عقلې وهوښیارې

/6/2016





○

ستا په اوښکو مې دزړهٔ شمع بلیږي
ګوره شمع چې بلیږي نو سوزیږي

ولې ساه زما ډوبیږي چې ماښام شي
دا خو وي چې زېړې لمر کله ډوبیږي
تور د سترګو مې په مثل د زندان دي
د حق اوښکې مې قېدیان پکښې اوسیږي
دا دکومې ویرانے سندرے وایي؟
بلبلان چې په ګلزار کښې ناست چغیږي
یه د یار په مخ کښې بیا سرهٔ اننګي دي
یه پیاله کښې سور خمار دے چې ګډیږي

د زړه وینې کش کول غواړي پرېشانه!
دا ژوندون خو پهٔ اسانه نهٔ تېریږي

۲۰۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نظم

## سپرلے او خزان

سپرلے ساز دے او سرود دے
خزان پاڼې نیست نابود دے
پهٔ سپرلي کښې افزائش دے
پهٔ خزان کښې خو جمود دے
خزان چاته مقصود نهٔ دے
سپرلے هر چاته مقصود دے
خزان وچ سپېرهٔ بادونه
سپرلے څومره خوږ او تود دے
سپرلے مست او رنګین خیال دے
د خزان دغه څهٔ دود دے
سپرلے ډکه خلهٔ خندا ده
خزان دړد د اوښکو رود دے

خزان پاڼې پاڼې خور دے
سپرلے موتې یو وجود دے

*8.3.2008*





پټ شوي دا له ذاته په سرونو کښې سرونه
مشغول دي د پردیو په ځانونو کښې سرونه

زما د دړد جنون اوس د احساس دائرې څهٔ کا
روان مې له هر زخمه په رګونو کښې سرونه

باداره! که هر څو دې سر پټ کړے دے له خلقو
ښکارېږي دې محل په دیوالونو کښې سرونه

وحشت نن ګوره څومره مهربان دے په لاشونو
اخیستي ئې پخپله په لاسونو کښې سرونه

پرېشانه حسرتونه د مئینو په سینو کښې
پراتهٔ دي له پېړ یو په قبرونو کښې سرونه

*/7/2016*

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

وطنه کوم کهنډر دې وژاړمه
وایم چې سراسر دې وژاړمه

برباد برباد ،دامن تبزې تبزې
کچکول کچکول ،نهر دې وژاړمه

لږ مې په حال د روزګار پرېږده عشقه!
چې لږ خپل شام سحر دې وژاړمه

زړګیه سوزې به تر څو په زړهٔ کښې
راځه چې نن بهر دې وژاړمه

دا تهٔ ! د امن محبوبا کونترې
زخمي زخمي وزر دې وژاړمه

وائي پرېشان چې ټول زخمي زخمي ئې
وطنه کوم پرهر دې وژاړمه

30.7.2016





○

ستا د سترګو په نشه مست په دا بنګ زه
لېونے دې شومه یاره په دا رنګ زه

خپلې اوښکې کړم خېرات په خپل کچکول کښې
عجیبه دستا مئین د ځان ملنګ زه

زه سندره د ژوندون او هم یو راز زه
زهٔ نغمه یم د سحر د ماښام کړنګ زه

دا خو ستا د نظر توان دے چې اووینې
زهٔ دستا نه لرې لرې ستا تر څنګ زه

تصور د هستۍ څهٔ دے؟ ای پرېشانه!
لکه شمع بلېدل د ځان پتنګ زه

1.8.2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

په فطرت کښې په حېرت کښې يم جانانه
زه د خپل نظر وسعت کښې يم جانانه

نوم مې وانخلې چې زهٔ يمه په خيال کښې
زه د چا سره الفت کښې يم جانانه

بې لتانه که دروغ وايم چې دا يم
په رښتيا چې په راحت کښې يم جانانه

خلک نور درسره ضد کا چې دې ورک شي
وايه مهٔ چې مصيبت کښې يم جانانه

هو دا تهٔ خو بس برغولے د دوزخ شوے
هو دا زه خو په جنت کښې يم جانانه

جهانونه رانه هېر دي اى پرېشانه!
زهٔ له دلته په لذت کښې يم جانانه

2.8.2016





○

دا قدر د انسان چې د حېوان نه شوکم ولے؟
غورځېږي سرهٔ لاشونه د خپل ځانه قلم ولے؟

بې توله قيصې مهٔ کړه چې تلل به طول ونيسي
دا زيات ولے وي زيات او چې اشنا وي دا کم ولے؟

زه څنګه دستا نهٔ يم ، مئين تا باندے دلبره
د ورځې دې ياد اوري او د شپې دې وي غم ولے؟

لږ راشه ائينې مخې ته وغواړه څُمونه
که زړهٔ دې درته اووې چې دې مله کښې شو خَم ولے؟

خپل ځان د چړګ لګی کړه که دې خلهٔ سمه پکار وي
د وخت په کبږه خلهٔ کوے ګفتار خانه سم ولے؟

بس دا چې ، پرېشان تش درته په لاره کښې زړهٔ ايښې!
دا تګ راتګ دې بند کړلو زمونږه په چم ولے؟

3.8.2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ سحرکښې چې رندي ستا د جمال کړم
څومره ډېره ننداره پهٔ يَوهٔ خيال کړم

د منطق د فلسفې بچيه ګوره
ځوابونه به دې واړه درته سوال کړم

کائنات ئې چې په يوه ادا کړي رقص
له خو ژونده! زه مستي په هسې لال کړم

مجسمې څه جوړوم او څه تراشمه
سوړے عشق د جمالياتو دې کولال کړم

ننداره د ښهٔ صورت په بيعه نهٔ ده
بازاري حسن که څهٔ بيعه په ريال کړم

هر يو ساز وته به سر وهم پرېشانه!
رقاص زړهٔ مې چې څوکر د سُروتال کړم

8.8.2016





## ترانه

### د سکول د ماشو مانو دپاره

مونږ د علم شمعې يو مونږ کله د چا کم يو          هر چا سره سم يو
لوړے ارادې لرو مونږ څوکې د ايلم يو          هر چا سره سم يو

مونږ د خپل روښانه مستقبل د راتلو زيري يو          مونږ د ژوند ملګري يو
مونږ لکه حباب يو په معنا کښې سرهٔ بخري يو          مونږ د ژوند ملګري يو
مونږه د حالاتو مقابل کښې دم په دم يو          هر چا سره سم يو
لوړے ارادې لرو مونږ څوکې د ايلم يو          هر چا سره سم يو

مونږ يو باشعوره قام مونږ ځان او جهان پېژنو          مونږه دوران پېژنو
مونږ د سمندر مستې مونږ شان د آسمان پېژ نو          مونږه دوران پېژنو
مونږ په خپل هنر او مونږ مئين په خپل قلم يو          هر چا سره سم يو
لوړے ارادې لرو مونږ څوکې د ايلم يو          هر چا سره سم يو

مونږ به په ظلمت کښې ډيوه ګۍ د علم بله کړو          نوے لار به خپله کړو
دا د وير نړۍ به په ژوند ژوند خندا بدله کړو          نوے لار به خپله کړو
مونږ يو د فطرت ښکلا مونږ ځاځکي يو شبنم يو          هر چا سره سم يو
لوړے ارادې لرو مونږ څوکې د ايلم يو          هر چا سره سم يو

مونږ د وطن مڼې مونږ د دې خاورے بچې يو          ځوان يو مېړني يو
دا وطن موکور دے په پالنه کښې زمري يو          ځوان يو مېړني يو
مونږه په خپل عزم مونږ په خپل يقين محکم يو          هر چا سره سم يو
لوړے ارادې لرو مونږ څوکې د ايلم يو          هر چا سره سم يو

22.1.2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په مسیدواله ژبه کښې

کورینه ړانګ دي که دې مېږ دې توس په غرۀ کشې
ځا چې ځي خوندینه ډېر دي پوس په غرۀ کشې

غرۀ ته وو بد نۀ ویائې کله
وي مو سوتلائي اشنا ننګ ناموس په غرۀ کشې

دا دې پرېغلۀ د غِرۀ لمن کشې
ګرځي وو ځانګ په ځانګ او لوس په غرۀ کشې

کُشلائی موسم دې پسرلي دائی
هر شائی ګل شوي دي جانانه اوس په غرۀ کشې

په نوم دې امن په وطن کشې
پرېشان محسود وو ګرځوي سپین ووس(اس) په غرۀ کشې

/8/2016





د جانان د لونګینو سترګو خوب یم
د ځوانۍ په نشه مست یم لېونتوب یم

ستا د مینې د سوداِن وږې ماشوم یم
ستا د غم لاشخور ته لاره کښې زدکوب یم

ژوند مې تول د یار وصال پسې شوګیر شو
همه سترګو ته راغلې یم پړځوب یم

د مشرق نه تر مغربه مینه غواړم
هم قائل ئې د شماله تر جنوب یم

زه چې ځومره پاس د زمکې په سرګرځم
دومره پټ یمه پرېشانه دومره ډوب یم

/9/2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

زه چې په سبل د کائنات ووځمه
دنیا مې هېره شي له ذات ووځمه

پرېږده په عشق کښې چې خوناب شم
چې په واتۀ تري لکه شات ووځمه

زړه مې حوس کا خو نظر چرته دے
زخمي مارغۀ یم وزر مات ووځمه

هم ستا به ومنم راستون شه شېخه!
راځه په نیت به د خېرات ووځمه

غم وئیل زۀ خو د پرېشان په زړۀ کښې
لکه ازغے به هسې مات ووځمه

/9/2016





○

شوندې پرانیزه په ناز
زړۀ له دوا پکار ده

د محبت انتها
ساه وارخطا پکار ده

تۀ بلَوه اورونه
مونږ له رڼا پکار ده

دوا شي بده زما
هله دعا پکار ده

چې کائنات تۀ ګورې
بس تماشا پکار ده

بچې دې مرې د غِرېب
تاله حلوا پکار ده

دې تورسَریو له هم
څوک مسیحا پکار ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



هله لږ شرم وکه
لږ خو حیا پکار ده

ستانه اوباسم هوا
تاله هوا پکار ده

ستا غزلیزه خندا
مونږ له خو بیا پکار ده

ساه ورکوم دلاسه
ماله خو ساه پکار ده

ای عشوه ګره ژونده!
ادا ادا پکار ده

تنا دهن دهن دهنانا
دهن دهنانا پکار ده

د پښتنو وطن دے
ستا مېلماستیا پکار ده





ورکه شه بغض کینه
مینه وفا پکار ده

د خپل ورک شوي زړګي
د چا نه غلا پکار ده

ګورم دې سیخ سترګو ته
سیخه سودا پکار ده

د پیغمبر اطاعت
د رب رضا پکار ده

د مصلحت نه خالي
نۀ ده دنیا پکار ده

خۀ دے اظهار د مینے
د زړۀ درزا پکار ده

قیصه د ژوند پرېشانه!
سپینه رښتیا پکار ده

18/9/2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



ياره اړوې چې په کوم لوري مخ
هغه مخ زما درپسې شوري مخ

ياره د هجران غرمو دې وسومه
نشته ستا د وصل سيوري سيوري مخ

مخ د بنيادم دے د اعمال سره
نهٔ خو دے دا ناري او نهٔ نوري مخ

زهٔ چې ستا ومخ ته کله ګورمه
ياره د هر لور راپسې ګوري مخ

هر څوکه پرېشان سينه اسمان لري
ښکلے دے دستا په ستوري ستوري مخ

٢٠١٢





زه خو ستا د مستۍ بنګ يم
زهٔ خو سور د شفق رنګ يم

زهٔ دشمعې سينګار نهٔ يم
سوې مينه د پتنګ يم

د وجود په مخ باچا يم
د زړګي کور کښې ملنګ يم

چې د امن په طلب يم
له د جنګ سره په جنګ يم

دا د حرص او لالچ ورې
بس له دې زمانې تنګ يم

زهٔ پرېشان يم پهٔ خپل رنګ کښې
بس نور هيڅ نهٔ يم لونګ يم

٢٠٠٨

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظم

سکنې ماښام شو ، درياب ودرېږي
د زړۀ شاعر راته
وائي   نظمونه
مست  غزلونه
رباب ټنګېږي
سکنې ماښام شو ، درياب ودرېږي

دا چې ځواني شي
عشق ومستي شي
جام خو کړنګېږي
سکنې ماښام شو، درياب ودرېږي

مرغۍ ستنې شوې
ځالې تاودې شوې
تيارۀ خوارېږي
سکنې ماښام شو، درياب ودرېږي

قراره شپه شوه
چوپتيا خواره شوه
سګان غپېږي
سکنې ماښام شو، درياب ودرېږي





د نسيم ساز  دے
د چړګ اواز دے
سحر    رڼېږي
سکنې ماښام شو، درياب ودرېږي

پرېشانه ژوند دے
دشپې دا خوند دے
ورځ  خو   قارېږي
سکنې ماښام شو، درياب ودرېږي

*18.10.13*

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

بيا مې والوتې د خيال په دشته زانې
کتهوري مې شول د زړۀ پسې ممانې

د سپرلي مسته هوا به وچليږي
په هر ښاخ به زرغونه شي شينکې پانې

دغه څۀ راباندې وشول خبر نۀ شوم
چې جذبې مې په شباب کښې شوے وکانې

ماله زړۀ راکه د خلې وړې دې نۀ يم
زۀ خو تا غوارم بس پوی شه وناجانې

خلک وختل له دې خاورو نه چرته
تۀ پرېشانه! په دې خاورو کښې څۀ چانې؟

24/9/2016





○

رِند خو نۀ يم چې به تل درته سلام کړم
ساقي زۀ خو دې د سترګو احترام کړم

انساني ښائيست ته ګوره په عروج کښې
لېونے که د جمال ،قيصې د بام کړم

پرون هم دلته ماښام راباندې راغے
انتظاره! نن به لاره کښې ماښام کړم

نۀ باچا نۀ بل ظالم د ځان غلام کړم
دا تر ډېره حده خپل حوس غلام کړم

دا خو زۀ پرېشان تل کام کړم ای رقيبه!
دا چې ستا په مخکښې هر وختې ناکام کړم

22/9/2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

د ژوندون په دې لوی بحر کښې يو خس يم
څۀ هستي او څۀ مستي ده، خو تهس نس يم

په دې لوی درياب کښې لوند نشوم انسان يم
د حوس په اور کښې بچ پاتې يم نس يم

زه خو رند يمه ارزو د نوي جام کړم
ساقي مۀ وايه وماته چې زۀ بس يم

زه اواز د ډېرو زړونو يم عالمه!
د اولس مېنځ کښې اوسېږمه اولس يم

ترڅو ورم به ډېر غمونه د يارانو
يو انسان يم، يو پرېشان يمه، يو کس يم

۲۰۰۸





### زما د ترۀ زوئ د (نقيب الله شهيد) په نوم

دا چې تۀ به په دې زمکه ګرزېدلے
ستا ځوانۍ ته مستې پېغلے موسېدلے

چا وئيل راته چې خوب مې وليدلو
چې د سرو ګلونو مېنځ کښې وسېدلے

ستا ځوانۍ ته که سحر په انتظار وو
مازديګر دربانده خاورې واړولے

ستا د مرګ غم مې سينه ارې ارې کړه
له دپاسه پرې سرې اوښکې څاڅېدلے

هغه ورځ، هم هغه، هغه، هغه بله
هم پرون، هم نن، دا اوس مې يادېدلے

روح دې تل له خدايه ښاد غواړم نقيبه!
د پرېشان د قلم وس کښې سرې بدلے

31/8/2016    هم دا ئې د شهادت تاريخ وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوټ راباندې وڅښه مایوسي ساقي ګناه دے
تلل دچا له دره لاس خالي ساقي ګناه دے

ګلونه رانه مهٔ غواړه مونږ نهٔ لرو ګلونه
راتګ زمونږ په خاوره د سپرلي ساقي ګناه دے

ازار به درته نهٔ کړم کله دواړه ګنهګار شو
په وچو وچو شونډو اسوېلي ساقي ګناه دے

بس تهٔ خو خپل ژوندون په څاڅېدونکيو پیالو پائې
دا مونږه لېونو له زندګي ساقي ګناه دے

بس دلته خو د خان د غټې خېټې غټ ثواب دے
ماړه خېټه دچا غریب بچي ساقي ګناه دے

ناحق وېنا به څومره ګټوره وي پرېشانه!
رښتیا وئیل که دلته کښې بېخي ساقي ګناه دے

2006





## ترانه

دستا دوا دوا اوبهٔ زما وطنه
پرخه ورېږي مې پهٔ زړهٔ زما وطنه

ستا نظارې وطنه
ستا ګلدارې وطنه
ستا سرچینې وطنه
وربه دې نهٔ کړم پهٔ ډېر څهٔ زما وطنه
پرخه ورېږي مې پهٔ زړهٔ زما وطنه

ستا د زلمو سندرې
د ننګیالو سندرې
د پسرلو سندرې
شي به وئیلے په هر غرهٔ زما وطنه
پرخه ورېږي مې پهٔ زړهٔ زما وطنه

څومره ازاد وسېږو
اباد اباد وسېږو
تل زنده باد وسېږو
مهرباني ده د هغهٔ زما وطنه
پرخه ورېږي مې پهٔ زړهٔ زما وطنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــــهٔ زمــــا څــــان وطــــن ئــــې
تــــهٔ مــــې جانــــان وطــــن ئــــې
تــــهٔ پاکســــتان وطــــن ئــــې
کـړم بـه خـدمت سـتا پلـهٔ پـه پلـهٔ زمـا وطنـه
پرخــه وریــږي مــې پــهٔ زړهٔ زمــا وطنــه

2006





شپه کښې رڼا د سپوږمۍ ستورو څهٔ ، چې بر بلیږي
چـې د زړګـي د داغ ډیـوې مـې تـر سـحر بلیـږي

بېګانۍ شپه خدای زده کومې ستورے له مداره وتے
د سیند سینه کښې چې نن سور د قهره لمر بلیـږي

دلتـه خـو چـا هـم د رڼـا پـه خـاطر اُور بـل نـهٔ کـړو
زمـونږ وطـن کښـې اور بلیـږي پـهٔ څـه شـر بلیـږي

لنــډه ئــې وکــه چــې اشــنا پــه لــر او بــر بلیــږي
څـه بـه مـو وخـت نیسـې چې لـر بلیـږي بـر بلیـږي

د پښــــتنو خــــونې پرېشــــانه لولپــــه وګڼــــړه
بل ته ئې لاس کښې وي اور هم ئې پخپل سر بلیـږي

۲۰۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

نن له سحره څه قضا ده
دا په ګلشن کښې چې غوغا ده

تاته به کړے چا ښېرې وي
وماته کړے چا دعا ده

نن شپه ایسار شه د باران یره ده
توره تیاره ده او برېښنا ده

دغه یو تال حلوا د شېخ په قسمت!
کمه ده خو هم بیا ده

زما دزړه هر داغ ځلا کړي؟
اوکه دستا دمخ رڼا ده؟

ځواب دې رانه کړو د مینې دسوال
دا چې خاموش ئې ستا رضا ده

که کائنات لري اسرار و رموز
د پرېشان زړه کښې مدعا ده

26.9.2016





○

چې حق حېران دمېخانې وره کښې دې اودرولم
د ځوانۍ تندې، دا په کوم احساس دې ووژلم؟

د بوسې سوال راته په خوب کښې له چا ګران پرېوتو
په خپل ورکړي زړه ئې ببرته په زړه اوویشتلم

اوس مې دې نه! لټوي څوک دژوند داستان خاورو کښې
زه خو کتاب وم غورېدلے چې چا نه لوستلم

ما خو ډیوه وه تږوله شپه د چا راتلو ته بله
ښه ده سحره، چې دې نن په رڼا اولوټلم

په تخت و فوق کښې د ژوندون زه لکه تخم پرېشان!
هله زرغون شوم په معنا کښې چې څو پرېوتلم

29/9/2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د يوې پېغلې سندره

والوتم پۀ خيال کښې د سيلۍ شومه
باد شومه، باران شومه برلۍ شومه

خيال راته دستا د سپرلو راغللو
څانګه شومه، ګل شومه غوټۍ شومه

وخوړو تيندک مې ژواندانۀ سره
ويښه شوم، بېداره ګړندۍ شومه

شور مې چې د خپلو بنګړو واورېدو
ساز شومه او سوز شومه شپېلۍ شومه

دا چې زۀ د غرونو غرځنۍ شومه
تاپسې پرېشانه! لېونۍ شومه

25/11/2006





د سوي زړۀ خبره چاته وکړم
دې ژواندانۀ خبره چاته وکړم

چې هره خلۀ وغوړېږ ته تېټه شوله
خدايه! دا زۀ خبره چاته وکړم

خپل سرومال به ترې قربان کړم واړه
د دې نه ښۀ خبره چاته وکړم

محفل کښې ناست په اشارت پوی نۀ شو
رېبار وېل، څۀ خبره چاته وکړم؟

د ښار لوګو کښې د ښار ورکو خلقو
زۀ د خپل غرۀ خبره چاته وکړم

نن مې زړۀ شوے دے چې اوئې کړمه
هله د زړۀ خبره چاته وکړم

۲۰۰۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بې مطلع غزل

د یوې ورځې مسافر مهٔ شړه خوار شې
چې په تا باندې ئې لار دے غم ئې وکه

پهٔ هغه دنیا کښې شته دي سختے سختے
ای انسانه! نن دې وار دے غم ئې وکه

که مې زړهٔ هر څو مېخوار دے غم ئې نهٔ کړم
ستا په سترګو کښې خمار دے غم ئې وکه

ای لیلې! دغه د پئیو مئین پرېږده
هغه یار چې دې پهٔ دار دے غم ئې وکه

ځوان پرېشان دې چې داخل په استانه شو
لکه رِند هسې په وار دے غم ئې وکه

3/10/2016





## وقتِ پیری

وخت د پیرې شو
اوس راته ښایه
د جمات لارې
صورت مې زوړ شو
زړګې مې موړ شو
ځواني مې خاورې
اوس راته ښایه
د جمات لارې

وخت د پیرې شو
تسبې په لاس کښې
مسواک په جیب کښې
زمَا سپینه ږیره
دا سپین غاښونه
دا سپینې داړې
اوس راته ښایه
د جمات لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت د پیرې شو
اوس تېر وختونه
نهٔ یادومه
په مخکښې زور کړم
په مخکښې ځمه
کړم نېک کارونه
او نېکې چارې
اوس راته ښایه
د جمات لارې

وخت د پیرې شو
یَوه مې واورئ
حقونه مهٔ خورئ
مالونه مهٔ خورئ
ما که خوړل خو
ما که ثهٔ ثښل خو
خو وارې نیارې
اوس راته ښایه
د جمات لارې





وخت د پیرې شو
عمر مې تېر کهٔ
دولت مې ډېر کهٔ
دا غلا دا سود مود
دا مې ټول هېر کهٔ
خدایه! اوس مرمه
نارې مې ناورې!
اوس راته ښایه
د جمات لارې

وخت د پیرې شو
خلهٔ دې کړشپه
کلیمه وائې
الله الله کړے
بسم الله وائې
د جنت لارې
پرېشانه ځارې
اوس راته ښایه
د جمات لارې

2/7/2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

زوږ واسکټ زړه کمبله به رواخلم
د سیالۍ د بازار تله به رواخلم

تا چې هم نورې رواخیستې صنمه
زهٔ به هم درسره بله به رواخلم

دا یَوه ځپلۍ به واچومه پښو ته
شُکر خدایه! دا دے، بله به رواخلم

دا چاودنې چاته هیڅ نهٔ پرېږدي خدایه!
دا ! ماشوم بچي منګوله به رواخلم

شپونکے وائي پاس د غرهٔ پهٔ سر بدله
زهٔ د دهٔ نه لږ بدله به رواخلم

دا لاش لاش ځواني به ببرته ای پرېشانه!
ځوک به لاس راکړي! پخپله به رواخلم

7/10/2016





○

زهٔ خو بې مثله محبت پېژنم
دا مې يقين دے، حقيقت پېژنم

د کائنات ذره ذره ته ګورم
زه خو د خدای شان وشوکت پېژنم

د زرو قدر د زرګر سره وي
زه خو د هر فنکار عزت پېژنم

دا چې په نیمه شپه لیکم سندرې
زه د خوارې ژبې خدمت پېژنم

نظر ساتم دستا پهٔ کړهٔ وړهٔ باندې
رقيبه! زهٔ خو دستا نيت پېژنم

که څوک مې پېژني ،که نهٔ پرېشانه!
زهٔ خو خپل قام او خپل ملت پېژنم

15/9/2008

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قوالي

زۀ خو روح یم تا پېدا یم لویه خدایه
نۀ یم ختېه او نۀ اور یمه له ځایه
زۀ خو نور یم په ذی روحوکښې نُمایه
پېدا کړے دے له مخه د اشنایه
لویه خدایه لویه خدایه
پاکه خدایه پاکه خدایه

زۀ وجود یم د هر څۀ نه بې نوا یم
خدایه تا وته مسجود یم په دعا یم
هسې ختېه یم بې سود یم وارخطا یم
هسې دا سر په نمود یم خو خطا یم
لویه خدایه لویه خدایه
پاکه خدایه پاکه خدایه

که د عشق قیصه مې ګورې نو منصور شته
که د عشق قیصه مې ګورې کوهِ طور شته
که د عشق قیصه مې ګورې دستا نور شته
که د عشق قیصه مې ګورې دستا کور شته
لویه خدایه لویه خدایه
پاکه خدایه پاکه خدایه





زه خو ستا و قدرتونو ته په ځیر یم
لکه ستورے د فلک د ځان په ویر یم
د پیرۍ لافې کووم خو چرته پیر یم
لړزولے خپل احساس او خپل ضمیر یم
لویه خدایه    لویه خدایه
پاکه خدایه    پاکه خدایه

دا همه زمکه اسمان دستا کرم دے
دشتې غرونه بیابان دستا کرم دے
ونې بوټې او حېوان دستا کرم دے
شه پرېشان لتا قربان دستا کرم دے
لویه خدایه    لویه خدایه
پاکه خدایه    پاکه خدایه

/7/2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حيا او د بقا دنيا ته ګورم
زه د نور او د رڼا دنيا ته ګورم

غوښ دے غوښ دے د ژوندون تسلسل غوښ دے
پهٔ امېد، امېد قضا دنيا ته ګورم

چې د زمکې د مخ ور راپسې بند شو
امکان نشته، چې به بيا دنيا ته ګورم

هر يو کس په دې بازار کښې سودائي دے
چې د سود او د سودا دنيا ته ګورم

نهٔ مې نن، نهٔ مې پرون سترګې ړندے وے
زهٔ پرېشان يم، د سبا دنيا ته ګورم

10/10/2016





## نظم
## تنهائي

ناست يم په تيارهٔ کښې ځان ته شمع بلووم
اوښکې مې بهيږي او سينه پرې سړوَوم
زړه مې راډک شوے تېر وختونه يادوم
وريت مې دې نظر او زمانې ترې دوړووم
ناست يم په تيارهٔ کښې ځان ته شمع بلوَوم

جګ تور دېوالونه د کچه خاورو کوټه
نشته دروازه زاړه بوجۍ پرې اپوټه
دلته په کړکۍ کښې د لرګي وړه ګوټکه
باد د شمع روح اخلي چې کوم طرف ته وړم
ناست يم په تيارهٔ کښې ځان ته شمع بلووم

زوړ د پړيوکټ لاندې ئې وچ او شنهٔ مزري
هلته کښې کوزه پراته څهٔ نور زاړهٔ کودري
دلته د لرګو پنجره کښې دوه واړهٔ تنزري
زهٔ هم په زاړه کمبل کښې ځان راټولووم
ناست يم په تيارهٔ کښې ځان ته شمع بلووم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما هم خپل بياض او خپل قلم مخې ته ايښي
نيم سګرېټ مې لاس کښې نور مې سم مخې ته ايښي
غم دصنم ډېر او نور مې کم مخې ته ايښي
بس دا زخمي سر خو به پۀ څه قلاروم
ناست يم په تيارۀ کښې ځان ته شمع بلووم

*29/9/2016*





راشه لږ واوره زما ستړې غزل
دا د شاهين د فکر وړې غزل

په نيم پلَو کښې دې مخ پټ کړو رانه
اوس خو پوره مې کړه نيمګړې غزل

که شهيد نۀ شو نو غازي خو به شي
وړمه محفل ته سرپرېکړې غزل

دا لکه ګنګا، د خيالونو قلزم
اوبو راوړې، ګنګاخړې غزل

د زړۀ په دشته لکه سيند پرېشانه!
د اوښ له سترګو پوره وړې غزل

*15/10/2016*

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظم

پاک سرزمین

(پاکه خاوره)

په خپل وطن کښې به خاني هم ملنګي کوومه
په پاکه خاوره د وطن به سربازي کوومه

د شهیدانو د غازیانو او نیکونو وطن
دا په نړۍ کښې د روښانه تاریخونو وطن
په ښو ځوانانو به هر چا سره سیالي کوومه
په پاکه خاوره د وطن به سربازي کوومه

تل لوړ لوړ غرونه ئې د فکر د عظمت نیښانې
دا شنۀ فصلونه ئې د ناز او د نعمت نیښانې
په شنو سیندونو ئې د ژوند سره مستي کوومه
په پاکه خاوره د وطن به سربازي کوومه

مونږ د وطن په نامه چرې مصلحت نۀ کوو
وطن موکور دے په خپل کور کښې بغاوت نۀ کوو
وطن چې نشته څۀ مزه؟ چې زندګي کوومه
په پاکه خاوره د وطن به سربازي کوومه





دعا کووم چې پاکه خاوره دې تل ښاده اوسي
تل دې د امن فضاګانو کښې اباده اوسي
په هر لمانځۀ کښې به وخدای ته دا زاري کوومه
په پاکه خاوره د وطن به سربازي کوومه

5/10/2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



نغمه کړه پورته سرودنوازه
غوټۍ په باغ کښې خولګۍ کړه وازه

که ئې په زمکه اسمان به مومې
راشه خبر شه له دغه رازه

ای زما عقله د عشقه لرې
زما جنونه زما همرازه

زۀ دې مړ نۀ شم تۀ دې ژوندې ئې
ای زما مورې د ژوند اغازه

تۀ کرم وکړې نیازمندې ډېره
کریمه ربه! ربه بې نیازه

دسحر باده، پرېشان منت کړې
پېغام ئې یوسه بیا تر حجازه

17/10/2016





## نظم

ای لمر مخیه
سحر مخیه

ګلبدنه
عنبرمخیه

سیم وزره
ګوهر مخیه

شکرلبه
شکرمخیه

هنروره
هنرمخیه

لتا زار شم
ستانه زار شم

4/10/2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

دهجر شپه مې مېلمانه ده رانه ځان ورک شوے
زما په توره شپه کښې شپه ده رانه ځان ورک شوے

دومره بدرنګ نهٔ یم مدام چې پکښې ځان ګورمه
که مې په لاس کښې ائینه ده رانه ځان ورک شوے

ولے مې ځان تللے په وینه دے په بل ځان پسې
د خپله ځانه مې ګیله ده رانه ځان ورک شوے

چې ځان مې نشته دے په ځان کښې زما ځان نشته
ژونده! بې ځانه که لمحه ده رانه ځان ورک شوے

د ځانځانې په دغه دورکښې زما هم پرېشان!
د زمانې غونډې قصه ده رانه ځان ورک شوے

19/10/2016





○

هر وګړې مو د قام که باهنر شي
دغه کانې به د لعل هسې سرهٔ زر شي

غزونې ئې که وکړے په خپل ذات کښې
دا قطره به په صفات د سمندر شي

له خبرو ناخبر دي ځنې خلک
له خبرو به خبر شي که خبر شي

چې تضاد لري هر څیز مایوسه مهٔ شې
دغه تورې بلا شپې به رڼ سحر شي

ای پرېشانه! سترګې پورته کړه اسمان ته
چې د خیال په وسعتونو دې نظر شي

7/4/2013

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نظم

هغه وخت هغه خبرے
پسرلے ګل ګل سندرے
ماشومتوب دغم نه لرے
آ دجګو غرو ګورګورے
چې رایادې شي لمبه شم
په زړه اوسوزم ایره شم

جیناکۍ دسیند د غاړې
سرې غوټۍ په بام ولاړې
ورکولے به ئې غاړې
خدای خبر چې چرته لاړې
په دې خیال شمه خفه شم
په زړهٔ اوسوزم ایره شم

آ ټالونه هغه بېرې
رانه کله به شي هېرې
له مې اوس په خیال کښې ځانګې
شي چپې مې په زړهٔ تېرې
بس دخوب وخیال قصه شم
په زړهٔ اوسوزم ایره شم





څهٔ د اوړي سرې غرمې وے
غرمې څهٔ خولې وے
ابېلې پښې به ګرځېدلو
څومره ښکلے ورځې شپې وے
څنګه نن د درد نغمه شم
په زړهٔ اوسوزم ایره شم

2006(شوال. ګربز)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د سپینو لاسو جام په ما روا شه
دا شراب شراب ماښام په ما روا شه

ګلبدنه! د ازغو ځوکې سنبهال کړه
هسې نه چې انتقام په ما روا شه

رواجونه څه روا څه ناروا دي
څۀ امکان! چې دروبام په ما روا شه

ستا هزار فتوې، زما هزار غزلې
بده مۀ ګڼړه، الهام په ما روا شه

د پرېشان سلام به تل په تا روا شي
ستا د سپینې خلې سلام په ما روا شه

20/10/2016





## بې مطلع غزل

چاته مړوند، چاته شو قبر سکون
چا زخمي سر له خپل زنګون اوبخښۀ

د سبا لار مې ځان ته اویستله
ما خو هر نن وته پرون اوبخښۀ

د قتل خون ئې پما اوبخښلو
ورته مې بیا د ځیګر، خون اوبخښۀ

د خدای قدرت ته په سپرلي کښې ګوره
هره ذره ته ئې ژوندون اوبخښۀ

د اوښکو ږود په مخ ځنځیر پرېشانه!
خیال ته مې بیا نوې مضمون اوبخښۀ

24/10/2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

بېدار سړیه
هوښیار سړیه

یه وسړیه
په لار سړیه
کار ته مې پرېږده
ووزګار سړیه
دغرهٔ سړے یم
دښار سړیه
رنځور به تهٔ ئې
بیمار سړیه
زما خوښ نهٔ ئې
مکار سړیه
عاشقي مهٔ کړه
د کار سړیه
راشه پخله شه
اویار سړیه

پرېشان سړیه!
خمار سړیه

25/10/2016





○

داچې پورې په دې غرونوکښې میشتهٔ دي
د غرهٔ خلک دي ،خو څومره پښتانهٔ دي

دغرهٔ خلک دي، خو څومره پښتانهٔ دي
دا چې پورې په دې غرونوکښې میشتهٔ دي

د بلبل فریاد به واورې په ګلشن کښې
ستا زما سره یو څو قدمه تلهٔ دي

خاک به مومې او که نهٔ، خاکي وجوده!
که لبوان به دې په سرو غوښو ماړهٔ دي

دغه رنګ قبر دچا دے؟ دلته خدایه!
د یادونو مشالونه چې پرې مړهٔ دي

ستا ومخ ته د پرېشان حېرانې سترګې
د عجم پېغلې حجاز ته پهٔ کاتهٔ دي

27/10/2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

باران پهٔ غرهٔ ورېدهٔ
څوک مې په زړهٔ ورېدهٔ

پهٔ تا به څهٔ ورېدل
زما لېمهٔ ورېدهٔ

اسمان چې څو تنبدهٔ
دومره اونهٔ ورېدهٔ

مهٔ کړه تپوس د باران
تور ابر تلهٔ ورېدهٔ

سالو په مخ ئې پرېشان!
اوبهٔ اوبهٔ ورېدهٔ

27/10/201





○

شبنم که ګل وته ښکلا بخښله
د سحر باد هم ورته ساه بخښله

زما له سترګو نه به څهٔ شرمېده
خو خپل ښائیست ورته حیا بخښله

بې له سودا نه مې بل سود نهٔ کېدهٔ
څه که مې فکر ته سودا بخښله

دې اوربلکه ته تیارهٔ کښې خلکه!
دغه رڼا د کمال چا بخښله؟

دا له ازله تر ابده پرېشان!
یَوې دنیا، بله دنیا بخښله

8/11/2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ازاد نظم

ولې؟
چې اووینم
دا ګېرچاپېره
جګ محلونه
ځان راته قېد وښکاري

*2016*





## نظم

سبا بیا
بیا سبا
د سحر
په رڼا
په خندا
په ګډا
ښه په ناز
او ادا
په دعا
مدعا
ځم تر
ښکلي اشنا

سبا بیا
بیا سبا
څهٔ پهٔ خیال
پهٔ کمال
پهٔ امېد
د وصال
چې هجران
دے وبال
پهٔ وفا
پهٔ رضا
ځم تر
ښکلي اشنا

سبا بیا
بیا سبا
چې سحر
شم بېدار
پټ له مور
پټ له پلار
ښهٔ پهٔ ډول
پهٔ سینګار
پهٔ حیا
باحیا
ځم تر
ښکلي اشنا

سبا بیا
بیا سبا
ورته کړم
به ګیلې
څو د مینې
قیصې
څهٔ خوا ږې
څهٔ پستې
پهٔ بیا بیا
پهٔ بیا بیا
ځم تر
ښکلي اشنا

*/2016*

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګـل د خاموشـیٔ نـه وه د چـا خاموشـي زیاتـه؟
فطرتـه! پـهٔ څـو چنـده وه، زمـا خاموشـي زیاتـه

یو چرته به مې شپه وه ،چې به شور وو پهٔ عروج کښې
هـو، چرتـه چـې جانانـه وه بلهـا خاموشـي زیاتـه

هیڅ پوی نهٔ شوم چې بیا څنګه تیارهٔ راغلله خدایه!
هـیڅ پـوی نـهٔ شـوم چې بیـا وه د رڼا خاموشي زیاتـه

هـو، نـن خـو چې وای بس لکـه هـوا خاموشي زیاتـه
هو، نن خو چې ببخي وای لکـه ساه خاموشي زیاتـه

پرېشـانه! جـدایي خـو لکـه مـور د خاموشـیٔ وه
تـــهٔ ګـــوره د آدم او د حـــوا خاموشـــي زیاتـــه

*11/11/2016*





## ای انسانانو!!!!

انسان خفه دے
له انسانانو
بچي یې ژاړي
پهٔ اور سوزیږي
شپه ورځ قتلیږي
یو رود روان دے
د اوښکو وینو
آه وفغان دے
د مظلومانو
انسان خفه دے
له انسانانو
،،،،،،،،،،،

مرغۍ له ځالے
بهر نهٔ ووزي
اکثر وي کور کښې
اکثر نهٔ ووزي
واړهٔ بچي یې
له لوږې ومري
کور یې ویجاړ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خونه تاله شه
د دې بازانو
انسان خفه دے
له انسانانو

وغرۀ ته نۀ ځي
پۀ کور کښې پروت دے
نۀ خو اوبۀ څښي
نۀ څۀ واښۀ خوري
ژوند يې مړګونې
زړۀ يې رنځور دے
رحم خو نشته
حېوان زړۀ بد دے
له حېوانانو
انسان خفه دے
له انسانانو





خدای چا ناراض کړ
اور چا بدنام کړ
جنات لګيا دي
حشرات لګيا دي
ماران خوړل کا
مهيان داړل کا
ازغي چيچل کا
آب مړکول کا
ای انسانانو!
انسان خفه دے
له انسانانو
.................

17.01.17

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره حسن ستا د سترګو په چینه کښې
سمندرمې پابند اولید په کوزه کښې

نن دوزخ ته یې روان پرون جنت وو
شېخه! دومره غټ تضاد په عقیده کښې

ګمانونه د یقین سندرې وابې
زۀ هم اوسم په اخبره زمانه کښې

ماته پته ده چې زۀ به ډېر خوروور شم
زۀ به ځای نشم د ذات په دائره کښې

ستا د حسن په مندر کښې تقوی څۀ ده
ډک جامونه دي او پروت یم په سجده کښې

د احساس له اذیته خپل ځان ژغوري
پرېشان پټ دے لکه شېخ خلوت کده کښې

10.11.2016





په دې ورایه توره ډېره نوم زما دے
تۀ پرې کښېنه زوروره نوم زما دے

دا جرس کښې چې غرېبې لا رویه!
دا بې خوفه بې خطره نوم زما دے

شېخه! دا ستا د فتوو په تور کتاب کښې
که دې خیال وي له یو سره نوم زما دے

که د شعر په حقله وایې دعوه ګیر یم
د دامان نه تر پیرغره نوم زما دے

نن ئې وبل چې ای پرېشانه! ستا دلاسه
دا په هره خلۀ سندره نوم زما دے

22.11.2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کبر خو دې زده دے

خدای خبر دلبرې که په ژوند به زما هېره شي
کبر خو دې زده دے چې له نازه پهٔ ما تېره شي

کبر خو دې زده دے چې خندا کوے پهٔ سترګو کښې
بیا دچا مئن د زړهٔ سودا کوے پهٔ سترګو کښې
تهٔ پهٔ دې بیوپار کښې وائیم نوره هم ماهېره شي
کبر خو دې زده دے چې له نازه پهٔ ما تېره شي

کبر خو دې زده دے چې خپل خیال ثنګه سندره کړے
ژوند نغمه نغمه شي چې تهٔ جوړه یوه سندره کړے
پټ یمه خوشحال لاس په دعا یم چې شاعره شي
کبر خو دې زده دے چې له نازه پهٔ ما تېره شي

کبر خو دې زده دے چې خوارهٔ کړې خپل زلفان ثنګه
ثنګه ګرفتار کړے بې دلان او مئنان ثنګه
هسې نه وړې چې پخپل دام کښې چرته ګېره شي
کبر خو دې زده دے چې له نازه پهٔ ما تېره شي

کبر خو دې زده دے چې پرېشان نه مروره یې
تهٔ د خپل شاعر شاعر جانان نه مروره یې
رایې د زړهٔ کورته چرته بیا ګلې د خېره شي
کبر خو دې زده دے چې له نازه پهٔ ما تېره شي





راشه زاهده! چې خیال سر پورته کړو
ستا له ځوابه خو سوال سر پورته کړو

محبوبې ستا قامت به ثنګه وینم
ستاسو د کور ړنګ دیوال سر پورته کړو

زهٔ به هم خپل جنون راواپاروم
پېره ! چې تا کښې جلال سر پورته کړو

د یوې لحظې د انتظار وعده دې
زر ځله ماته شوه کال سر پورته کړو

دا څوک پهٔ هغه بام ښکاره شوه پرېشان!
که له کوم غرهٔ نه هلال سر پورته کړو

27.11.16

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لمر

له مشرقه بهارونه زهٔ راوړمه
پهٔ هر لوري سرهٔ ګلونه وشيندمه
درنها وزر خوارهٔ کړم ولونه ولونه
زهٔ د ژوند د سبا زيرے، امېدونه

که هر څو يم په وجود کښې سرهٔ اورونه
دا د سرو لمبو خراب مست طوفانونه
خو په زمکه کړمه بل سپين مشالونه
لکه شمع ځان کړم ويلې غرونه غرونه

دا زما په رڼا ونې بوټي پابي
هر ذي روح له دې پړاوه ژوندون بيابي
د دنيا په دې باغونوکښې ځان پيابي
بس زما سره خو دا خويونه ښابي





پهٔ نظام کښې زهٔ وړه شان پېمانه يم
پهٔ وسعت کښې د وړې شګې سينه يم
زهٔ که هر څو د رڼا يَوه چينه يم
د طواف پهٔ دائره کښې پهٔ سجده يم

زهٔ ګرمي د شرق ږګونوکښې پېدا کړم
د منزل اتهٔ قدمه زر پورا کړم
د تيارې نه د رڼا قيصه رښتيا کړم
پهٔ هر لور ښکارم مدام سپينه برېښنا کړم

دا بلبل چې پهٔ سحرکښې نغمه خوان دے
له فطرته چې شبنم پهٔ ګل پرېشان دے
دا زاهد چې د جمات پهٔ لو روان دے
هر وجود کښې تاباني زما د آن دے
..................................
21.12.16

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خاکي آدم وجود

د خاکي آدم وجود کښې دا رازونه نوراني
پهٔ هر تارکښې يې پېئلي صفتونه رحماني

دا خبرے قدرتي دا لفظونه الهامي
اوازونه غېباني کېفيتونه وجداني

دوه رنږې سترګے چينې پکښې حجم دريابي
پهٔ دماغوکښې پراتهٔ عالمونه طوفاني

پاس تر عرشه رسېدل دا په يو قدم بېخي
رازونياز د کوهِ طور بل خواه تخت سلېماني

دا جلالِ عمري دا جمالِ يوسفي
دغه متېې د خالد دغه توره د علي

سپين مخونه أئينې اننګي سرهٔ ګلابي
نرې ملې، شونډې زلفان پرېشان حسن نسواني

5.1.17





تا د خيال پهٔ لاسو ونيو ماته ګل
ماهم وتړومبهٔ کمځی کښې تاته ګل

د وختونو موسمونه دي بدليږي
چاته لاس کښې ازغي ورکړي چاته ګل

د ژوند لارې پهٔ ازغو نهٔ ښائسته کيږي
راشه وکړه اشنا ښېدياته ګل

ده دنيا په ثنويت باندې ولاړه
وي رښتيا د هر ازغي وشاته ګل

پسرلی شو پهٔ هر لوري سبزه زار دے
دلته ګل او هلته ګل هر خواته ګل

راشه ښخ کړه پهٔ دې خاوره کښې تخمونه
چې زرغون شي زېړ او سرهٔ سباته ګل

زما کار شوکول نهٔ دي د سرو ګلو
زهٔ پرېشان خو تل پرېږدمه بياته ګل

10.01.17

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انسان خفه دے

انسان خفه دے
سترګې غمژنې
له اوښکو ډکې
لاس یې پۀ زنې
پۀ ماتمونو
ګډ پۀ ویرونو
ځورول کیږي
ژړول کیږي
خفه خفه دے
انسان خفه دے

پۀ چاړو غوښ دے
نور پرې تبغ پڅ دے
پۀ ګولو مړ دے
ثنګه خړ پړ دے
چرته لاش لاش دے
چرته پرې لاس دے
کله یې سر غوښ
څۀ دلخراش دے
ذره ذره دے
انسان خفه دے



د لفظونو په سینو کښې پرېشان محسود

روان له جنګه
له وطن لرې
خونه یې ړنګه
کنډې کېرې
وارۀ بچې یې
له یرې ژاړي
مورکۍ شهیده
ورک بابا غواړي
پۀ ویر اخته دے
انسان خفه دے

چرته زندان کښې
د جنګ مېدان کښې
پۀ خوب ودۀ مړ
پۀ بیابان کښې
لاس پښې تړلې
سترګې یې پټې
سلګۍ وهینه
له دنیا ځینه
څۀ بې ګناه دے
انسان خفه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایه مړ کیږي
انسان دړدیږي
پهٔ خپل شناخت یې
زړهٔ ډېر بدیږي
ځورول کیږي
ژړول کیږي
ستا کرم غواړي
وتاته ژاړي
دستا بنده دے
انسان خفه دے
............

*17.01.17*





○

*مړي دې راپاڅي د ژوندو پهٔ غم دې وژاړي*
*مړې اوښکے دې توئ کړي مړې پرېشانه! سم دې وژاړي*

*بیا دې روڼ سحر شي د فطرت پهٔ رنګینیوکښې*
*سور ګلاب دې وخاندي او سپین شبنم دې وژاړي*

*دا د بت پرستو مایوسي هم د ستایلو ده*
*نور خو دوئ پوهیږي نه خو خوار صنم دې وژاړي*

*اې د وخت قاضي! ستا د انصاف پهٔ تله سترګی دي*
*نهٔ چې مظلوم بیا وژاړي غواړو ګرم دې وژاړي*

*مونږ به یې فتوی پهٔ ځان د قتل بیا حق وګڼو*
*شېخ دې لږ مسکے شي او یا پټ مبهم دې وژاړي*

*اووایه پرېشان ته یار دې لاړو خو بیا راباشي*
*هسې نه ډېر وژاړي رېباره کم دې وژاړي*

*18.01.17*

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خدايې تصوير

دا وړې نازکې شونډې
دا معصوم تت آوازونه
پهٔ ورو نازکو شونډو
د ادې بابا نومونه
دا واړهٔ نازک مخونه
دا واړهٔ واړهٔ لاسونه
دا وړې د مرغکۍ پښې
دا بې ځايه قدمونه
دوه وړې سترګې ای ربه!
د موركۍ دوه جنتونه
پهٔ دې سترګوكښې ژوندونه
پهٔ دې سترګوكښې خوبونه
دغه لوېشت وړه سینه کښې
دا اومهٔ زګونه
د پیشو معصوم خوبونه
د هوسۍ پشان غوږونه
د پرېشان بابا خبرې
بس چې ختمې پهٔ دې کړونه
که د خدای دیدار ارمان شو
د خدايې تصوير مې اولید

*23.01.17*





وجودونه وو پهٔ لار باندې روان وو
دوه ځانونه وو پهٔ لار باندې روان وو

عاشقان يې لکه وچ خشاک ایرې کړل
سرهٔ اورونه وو پهٔ لار باندے روان وو
خوب مې اولید چې قاتله ستا وکورته
غوځ سرونه وو پهٔ لار باندے روان وو
سم بسونه وو چې دوئ پکښې سوارهٔ وو
محلونه وو پهٔ لار باندے روان وو
دستائلو قامتونه وو واعظه!
چنارونه وو پهٔ لار باندے روان وو

د پرېشان همنوا نهٔ وو ستا يادونه
مست غمونه وو پهٔ لار باندے روان وو

*7.02.17*

(c) ketabton.com: The Digital Library



## افسانوي خيال

يوه ورځ پهٔ رون سحر
تېرېدم پهٔ يوګودر
هغه کنده کنده لار
هغه کاڼي کاڼي غرونه
ټوپک لاس کښې ښکار پهٔ نيت
وم روان پهٔ حقيقت
يوه چهترۍ راسره لاس کښې
يو دوربين مې وو پهٔ غاړه
داسې خړه غونډې ورځ وه
پهٔ آسمان توره وريځ وه
چنارونه پهٔ ګډا وو
شنو ممانړو وې سندرې
نرمه نرمه شان هوا وه
ډېر دلرې تندرونه
غورځېدل سپينه برېښنا وه
خو زهٔ بيا پخپل نيت ټينګ وم
تلمه لار مې لنډوله
زوړ ناستې مې يادېدلو
ما وې لږ به ياد تازه کړم





د هوسۍ کورته به ورشم
مشغوله به ورسره وکړم
بل زهٔ هم کورته راغلې
ځهٔ د ډېرې مودې پس يم
د وختونو پهٔ درک يم
د ډوډۍ پهٔ تکل ورک يم
پهٔ دې خيال کښې ومه تلمه
خپل نظر راځنې ورک وو
ځهٔ يادونو وم اخيستى
ځهٔ وختونو افسانې وړے
د خپل ځان سره اخته وم
دګرېوان سره اخته وم
چې مې پښه کله تيندک شوه
لږ پهٔ هوش شوم رابېدار شوم
يو خواه بل خواه مې نظرکړو
چې لږ پورې خواته ګورم
,, ما دغرهٔ هوسۍ غوښتلې
چې د خيال پهٔ هوسۍ پېښ شوم ,,
نو زار وينم چې ځهٔ وينم
دواړه سترګې که کړم پټې
هم نو بيا يې له ښهٔ وينم

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه سپوږمۍ پهٔ بام ولاړه
دځوانۍ پهٔ بام ولاړه
د وطن پهٔ کوهِ کاف کښې
ښاپېرۍ پهٔ بام ولاړه
کله کله پهٔ سندرو
کله کله پهٔ خبرو
کله یار ته دعاګانې
کله مستې ښېرې ورانې
د دیدن یې ارمانې ده
پهٔ سرهٔ اور یې زندګي ده
د نظر د سوال لمن کښې
د دې برخه جدایي ده
نو ما ځان کړو ناخبره
پټ یې بل لورته روان شوم
د هوسۍ پهٔ ښکار پښېمان شوم
پهٔ دې وخت کښې باران راغې
ما چهترۍ کړله راخلاصه
ټولې ترې هم لمدې شوې
د خوئېدلو هم خطره شوه
خو ما هم توکل وکړو
پهٔ مزه مزه ورتلمه





چې لږ نور هم ورنیزدې شوم
نو یو بوټې ته تکیه شوم
دوه غوږونه مې ځلور کړل
دوه مې نور هم پهٔ ځان پور کړل
وابې
جانانه نن خو راخطا شې
او چې لمده خوشته دې غېږې ته درشمه
ما وېل دومره زړګی مهٔ خوره
دا ارمان به دې پوره شي
دا ګیلې مانې دې ختمې
دا میئن زړهٔ به دې سوړ شي
پهٔ دیدن دې زړګی موړ شي
د خپل خیال پهٔ لمن نغښتې
له د ځان سره اخته وه
د یادونو د عمرونو
د جانان سره اخته وه
ناګهانه مې ورټوپ کړهٔ
ما وې دا څهٔ وایې څوک یې
دواړه سترګې مې یې پټې
څهٔ پهٔ خپل نرې څادر کړې
وارخطا شوه بوږنېدله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې وړه سپینه خولګۍ یې
بس ژاړا ته جوړېدله
لوپټه مې ترېنه لرکړه
ښکلې سترګې یې ښکاره کړے
له مېږي مېږي کېدلې
څۀ پۀ سپینو سپینو ګوتو
یې څۀ رو رو سولوَلې
چې یې اولیدم توبه شه
سره غوټۍ پۀ غرۀ کښې واه شه
,, وې دا تۀ یې ، دغه تۀ یې ,,
پۀ تعجب سره یې اووې
ما وې زۀ یم ستا جانان یم
ما وې زۀ یم ستا ارمان یم
پۀ جامو کښې نۀ ځائېدله
پۀ دیدن نۀ مړېدله
د وصال تندې اخیستې
له فراقه جل وهلې
وېل یې دلته څنګه راغلې
بیا دې څنګه اولیدمه
ما وېل تۀ خو بس سپوږمۍ وے
پاس پۀ بام چې ځلېدلې





ما به خود هم تۀ لیدلې
دا خبرې مو کولے
چې باران هم پۀ شېبو شو
د چهترۍ نه قیصه لاړه
د ږلۍ باران شورو شو
ټول وطن اوبۀ اوبۀ شو
فضا یخه شوه ساړۀ شو
ما وې څه بس دې چې درومو
ګنې زړونه خو مو نۀ ځي
خو څۀ وکړو مجبورې شوه
دا سیلۍ هم راشروعې شوه
خو لېواله د دیدن وه
پۀ دیدن نۀ مړېدله
بس اخېر یې مجبورې شوه
ځنګېدلې پۀ مړو غړو
راغله څنګ ته لاس یې راکړ
بس روان شوو تللو تللو
چې د کلي خواته راغلو
ماوې بس دې رخصت راکړه
مړې مړې اوښکې یې راتوئ شوے
زما زړۀ یې هم راډک کړو
هغه خپل کوره ته لاړه
پرېشان خپل کلي ته راغلم

د لیکلو تاریخ : 2006

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

دا چې سپرلے وغزيږي بيا
شين څادر به وغوړيږي بيا

بيا به دا زړې مېخانې خلاصې شي
مست رندان به وځنګيږي بيا

شېخه! که يې مړهٔ مړهٔ درته وخندل
پته به دې اولګيږي بيا

يخ شمال به اولګي نرې نرې
يخ باران به اوريږي بيا

امن ازادي د ژوند رنګونه دي
ياره که څوک وپوهيږي بيا

حق د تبسم دې هر مخ ومومي
نهٔ چې چرته وژاړيږي بيا





بيا به شي فضا ټوله خوشبو
هر نفس به وموسيږي بيا

شي به رواني پېدا سيندونو کښې
شني ويالې به وبهيږي بيا

بيا د شنو پټو پهٔ غاړو کښې
شنهٔ غانټول به وټوکيږي بيا

شي به د وحشت ګرېوان تنې تنې
لاس به ورته ورسيږي بيا

وريځې به د امن پهٔ وطن راشي
لوی مولا به ورحميږي بيا

دا چې د سپرلو سندرې اووايې
ځوان پرېشان به وتوانيږي بيا

*21.1.17*

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله کله خو جام پورته شي له خونده
ساقي هر وخت خو مستي وي او نۀ تنده

دا تۀ مرګ يې اوکه ژوند قيصه کړه سپينه
چې ناري درکښې د مرګ اورمه ژونده

د دې دور د انسان غمژنې سترګې
د دې دور وجود دَل د وخت پۀ ژرنده

دومره تنده خو مې شته چې دې ترمه
ګني اوس به دې دا تول وچ کړمه بنده

خدای کړي مينه د انسان سره پرېشانه!
له سل ميانډو نه هم ډېره پۀ څو چنده

21.1.17



د لفظونو په سينوکښې پرېشان محسود

## د نمرود سرکشي

يوه ورځ رب اووې د مرګ وفرشتې ته
چې دهيان کړه د عبرت ډکې قيصې ته
ستا پۀ کارکښې خو روحونه اخيستل دي
د ژونديو د ځانو قبضه کول دي
وايه رحم دې پۀ چا دے دستا شوے؟
چې دې روح ترې اخيستۀ ، زړۀ دې پرې سوے؟
دې ځواب وکړ چې زړۀ مې ډېر پرې سوزي
خو له حکمه ستا، زما سر کله خوزي
رب ترې بيا وکړ تپوس چې مګر وايه
چې دې زړۀ پرې رقيق شوے هغه ښايه
فرښتې د مرګ تسليم کړه چې اى ربه
يوه قيصه خو شته چې ډېره ده عجبه
يَوه ورځ د سمندر ارته سينه کښې
يوه کشتۍ کړله موجونو پۀ ولقه کښې
ستا پۀ حکم مونږ کشتۍ ذرې کړه
زندګي مو د نفوس خاورې ايرې کړه
خو له دې چې پکښې دوه نفوس شول پاتے
يَوه مور او بل يې زوى سپېرۀ ميراتے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی چې دواړه پهٔ تختۍ د مرګ سوارهٔ وو
پهٔ ساحل له سمندره پهٔ واتهٔ وو
پهٔ نجات مې چې د دوی شو زړهٔ خوشحاله
بیا فرمان وشو له لور د لم یزاله
چې له مور نه یې روح واخله او دا پرېږده
دا ماشوم بچے یې بېرته تنها پرېږده
ستا پهٔ امر مې روح واخیستهٔ له موره
او ماشوم بچې ژړل پهٔ زوره زوره
پهٔ دي وخت کښې چې زما پهٔ زړهٔ څهٔ تېر شول
هغه هر څهٔ خدایه تا وَته برڅېر شول
ستا له حکمه روکشي شي څوک کولے
د قضا فېصله ما پهٔ زړهٔ منلے
ما چې کوم غم برداشت کړے هغه وخت وو
د ماشوم بېکسي خدایه د دهٔ بخت وو
له مې اوس د دړد منظر له خیاله نهٔ ځي
هغه سوز مې د نظر له خیاله نهٔ ځي

الله اووې چې اوس واوره عزرائیله!
اوس د دي ماشوم قیصه ښه له تفصیله
ما اوبو ته حکم ورکړلو د وړلو
چې دا یوسي وځنګل ته د سرو ګلو





چې سوسن وي او ریحان وي خوشبویې وي
دا چې چرته د خوږرو اوبو چینې وي
ما نازل کړل پرې بې شمېره نعمتونه
پهٔ دي باغ کښې د مرغو سل اوازونه
د نسرین پهٔ بستره د دهٔ خوبونه
بلا چرته کښې خفګان مصیبتونه
بیا مې لمر ته حکم ورکړو چې ای لمره!
چې شغلې دې تېزې نهٔ کړے شه خبره
بیا مې اووې چې هوا رو پرې چلېږه
وریځې تهٔ هم تر هغې مهٔ پرې ورېږه
تندرونه د اسمان مې هم خبر کړل
خزانونه مې بهار ته برابر کړل
ما د پړانګے شیدهٔ ورکړلو پرې ځوان شوو
دا ماشوم بچې پرې هسې پهلوان شوو
چې یې وخت شو د شیدو د پرېښودلو
بیا مې امر کړ جنات ته پهٔ وئیلو
پهٔ اسرارو یې خبر د پاچاهۍ کړئ
دهٔ ته ژبه هم ور زده ښه ګړندۍ کړئ
ما د دهٔ پرورش وکړو بې مثاله
لکه څنګه چې هر کار کړم د کماله
عنایات زما پهٔ دهٔ باندې بې شمېره
بې اسابو زما لُطف مهرباني ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر دهٔ ناشکري وکړله مردود شوو
عزرائیله! دا بچې لاړو نمرود شوو
ارادې یې خطرناکې شوې بل لورته
ابراهیم خلیل الله اچوي اُور ته
بس یکار ده چې د خدای د قدرتونو
شکریه یې کړو ادا د نعمتونو
چې له مال او له دولت او له منصبه
مونږ مغرور او سرکش نهٔ شو پهٔ دې ژبه
ګني هم زمونږ انجام به د نمرود شي
دا دنیا هم اخرت به مو بې سود شي
داسې نهٔ چې د الله له نعمتونو
سرکشي واخلو او راشو پهٔ جنګونو
ورنه حشر به زمونږه خطرناک وي
دګناه ګناه عذاب به مو دردناک وي

/2/2017





## سبا تګ دے

نن یو دلته پهٔ بل لوري سبا تګ دے
څه چې یاره ښهٔ وشوري سبا تګ دے

نن دې یار رانه مخ نهٔ پټوي خلقه
نن دې ښهٔ ښهٔ راته ګوري سبا تګ دے

پهٔ اوښانو باندے کتې کوّري بار دي
خبر نهٔ یې راشه وروري سبا تګ دے

بس دې خدای دې شه پهٔ لوري سبا تګ دے
بس دې خدای مې شه پهٔ لوري سبا تګ دے

که ازغي څوک د پرېشان پهٔ لار کښې کري
که څوک سرهٔ ګلونه پلوري سبا تګ دے

*11.3.17*

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مړه کوشش کښې چرته ده کامیابي!!!**

یوه ورځ مې
خپل د پینځو میاشتو بچی(رومي)
پهٔ غېږکښې نیولے
نیردي پهٔ سپین دیوال یې
چې خپل تت عکس ولید
هغهٔ کوشش وکړو چې
پهٔ وړو ښکلو ګوتو
خپل عکس ونیسي خو
بلا شو چرته کامیاب !!!!!





## همت

هر یو غم ته سینه ارته لکه غر کا
ګذارونو ته د وخت ځان برابر کا

ځوانمردي ځان کښې پیدا کا ای پښتونه!
د بابا شمله بیا نبغه پخپل سر کا

پېنځهٔ ګوتې هم وجود د موتې مومي
خاخکې خاخکې ګوره هم جوړ سمندر کا

چې همت او تخلیق دواړه سره یو شي
پهٔ کېمیا به د وطن کاڼي سرهٔ زر کا

ژوندون ډک له کړاوونو دے پرېشانه!
د همت پهٔ خوی خپل زړهٔ ورته د غر کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مزل

هله ځئ چې ځو مزل کړو
د منزل پهٔ لوري زغل کړو
یو مقام ته ورسېږو
خپل مرام ته ورسېږو
چې مزل مزل مزل کړو
هله ځئ چې ځو مزل کړو

وي که غرونه دریابونه
که سیندونه طوفانونه
که هر څومره فاصلې وي
که ساړې وي که تاودې وي
بس پهٔ پاک اللّه توکل کړو
هله ځئ چې ځو مزل کړو

د ژوندي ضمیر خاوند شو
چې یو متهې یو مړوند شو
چې دا بُغض کینې ختمې
کړو دا تېولې لانجې ختمې
چې دا خپل وطن موګل کړو
هله ځئ چې ځو مزل کړو





یوه چغه د ژوندون شو
انقلاب شو یو بدلون شو
خپل حالات بدل کړو خپله
د اټک نه تر کابله
پښتانهٔ خپلوکښې خپل کړو
هله ځئ چې ځو مزل کړو

خپل خوشال اېمل خان یاد کړو
اعتماد زړو کښې اباد کړو
د جمال دېوټ مړ نهٔ شي
د جلال دېوټ خړ نهٔ شي
شمع بله د محفل کړو
هله ځئ چې ځو مزل کړو

3.11.2007

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږه د دوران سترګې لیدلې دي
سرې مو د ارمان سترګې لیدلې دي

زهٔ وم په ژړا او ژړېدم پکښې
بیا مې د خپل ځان سترګې لیدلې دي

باده سلابې مې شه په سترګو کښې
تا خو د جانان سترګې لیدلې دي

نن چې د سپرلو سندرې وایو مونږ
مونږه د خزان سترګې لیدلې دي

دا چې یې ورې سترګې پرېشانې دي
دا یې د پرېشان سترګې لیدلې دي

5/2/2017





## وحشته!

زما په شونډو له بلا بلا سوالونه پراته
وحشته! دومره زر مې روح له وجدان مهٔ تېښتوه
ما خو د وخت په سرو غرمو کښې دي ورکړې وینې
د ژوند سپرلي مې په لمبو د هجران مهٔ سوزوه
زهٔ لکه ذږد ځم د یوې څرېکې نه تر بلې څرېکې
تهٔ مې پښو کښې زولنې د جنون مهٔ شړنګاوه
پرېږده چې زه لکه د څرېکې پشان پټ بهېږم
تهٔ مې د اوښکو نه تصویر د لمبو مهٔ جوړوه
زهٔ د ژوندون په ګرمو چغو کښې یوازې خوښ یم
ودهٔ پښتون د بې غمې د خوبه مهٔ ویښوه
پرېږده چې ځم پخپله مخه خپل منزل ته ځمه
د وخت زلمې د طوفانونو څخه مهٔ یروه
زهٔ ابدالي ، میرزالي خان یم داسې نور ګوره
پرون یادکړې سبق دومره زر زر مهٔ هېروه
پرېږده چې زهٔ په مسته وینه څو جملې ولیکم
بیا پهٔ تاریخ کښې د پښتون تېر قیصې ولیکم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېږده چې څم پخپله مخه سمې غرونه وهم
د خپل مزل په تګ و دو مرام ته ورسېږم
زهٔ چې د خپل بابا د تورې او قلم مېدان کښې
خپل پښتانه خپل دیوانه خیالونه اولړزېږم
زهٔ خپله چغه نن د ژوند د ویر نړۍ کتاب کښې
لکه بلبل دګل په شونډو باندې اوچغېږم
هر چاله ورکړمه احساس د انسانیت د خاطر
د هر چا زړهٔ کښې د هر چا پهٔ دړد کښې اوخوږېږم
لکه شپېلۍ پهٔ خیالیستان کښې د خپل سوز وګداز
شور شم پهٔ خپلې ورکې مینې پسې اونړېږم
غږ اوکړم زهٔ د مورې مورې هر موره ویښه کړم
د بابا غږ سره د هر بابا زړهٔ اوسوزېږم
دا چې وطن پهٔ هره لار راتوکېدلې ازغې
د دې ازغو پهٔ څوکو زهٔ لکه ګل اوغوړېږم
د شعور څاڅکې د خپل قام پهٔ زوړ کتاب پرېوځم
د ویر نړۍ کښې د تاریخ یو نوی باب پرېوځم





د خپل همت پهٔ ژوندې خیال کړم راژوندې قامونه
د ژوندې فکر پهٔ جامه کښې ورته ساه اوباښم
د قام د هر زلمي د زړهٔ نه مایوسي لرې کړم
د امېدونو د سحر ورته رڼا اوباښم
دا د باروتو پهٔ لوګو د وطن سورې تصویر
د شنو باغونو د سپرلو ورته ښکلا اوباښم
د وطن نجونو د نظر نه ورکه شوې مینه
د سور سالو د تصور خوب ورته بیا اوباښم
د نوي ژوند د تبسم نه ناخبره څانګې
د ژوند پهٔ ښاخ د موسېدو ورته نڅا اوباښم
لمر د مزدورو یتیمانو پهٔ سر اور بل کړې
زهٔ ورته سیوري د خپل سر لکه بابا اوباښم
پښتونستان خو د ایشیا د وجود زړهٔ بالهٔ شي
پرېشان! پښتون ته به اخېر دغه وینا اوباښم
تاریخور قام یو پاتې نهٔ یو خو همت پکار دې
خپله کښې یو مُتهي کېدهٔ دي محبت پکار دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې بې سببه مې قلم پورته کړو
له ډېر کربه مې قلم پورته کړو

خود د مکتب خاوند خلاف د قلم
له دې مکتبه مې قلم پورته کړو

لارې وے نوري د اظهار دپاره
د شعر په ژبه مې قلم پورته کړو

د چا تقلید ته مې اونهٔ کتلو
له خپل قالبه مې قلم پورته کړو

خدای دې زما مطلب پورا کړي پرېشان!
چې بې مطلبه مې قلم پورته کړو

23/12/16





### د مولانه عبدالقادر خټک پهٔ کلام زما تضمین

نابودي د خزان راغله دګلشن پهٔ ګردون هسې
لکه یار ستمګري کا په داخل د لړمون هسې

دا خو زهٔ دستا پهٔ عشق کښې پهٔ دوه رنګه څرګندېږم
ګنې ښهٔ دي پهٔ ظاهر کښې درون هسې بیرون هسې
دا د ښکلیو ناداني ده چې غرور کا پخپل حسن
چې ئې خط پهٔ مخ زرغون شي د ښائیست دے افسون هسې
وعده مهٔ وکړې دلبره چې یوځل پرې بیا څوک خوار شي
خوب د سترګو مې تاله شو د زړګي مې سکون هسې
لکه څنګه چې دے ورځې نن د شپې لمن نیولے
د خوښۍ دے د غمونو سره یاره تړون هسې
د سبا پهٔ طمع ناسته په نیمګړې سبا نشته
لکه نن پهٔ تېرېدو دے پرون تېر وو پرون هسې

ستا وشعر ته ئې شعر اووې پهٔ پښتو عبدالقادره!
پهٔ پیرغر کښې هم پیدا شو دا دې بل یو پښتون هسې
10/1/17

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

*ولـــې تـــهٔ ماپـــهٔ دې قصـــه آشـــنا حېـــران پرېـــږدې*
*دا زهٔ او تـهٔ خـو لکـه ځـان يـو چـې تـهٔ ځـان پرېـږدې*

*څنـډ دې لمـدو زلفـو تـه ورکـړو بيـا محـل تـه لاړې*
*خپـل خـوار مـئن پـهٔ نيمـه شـپه کښـې پـهٔ بـاران پرېـږدې*

*خـــواهش مـــې وو چـــې يوســـم يارتـــه نـــن دګلـــو امېـــل*
*خـــوار شـــې غربتـــه تـــهٔ پـــهٔ زړهٔ بانـــدې ارمـــان پرېـــږدې*

*زمـــا جانانـــه تـــهٔ بـــه مـــا لکـــه جانـــان پرېـــږدې*
*وطـن جانـان دې تـهٔ چـې خپـل وطـن جانـان پرېـږدې*

*پهٔ دې به خوښ وې چې خپل حسن پهٔ پلو کښې پټ کړې*
*که پهٔ دې خوښ ئې چې پرېشـان ځان ته حېران پرېږدې*

*21/1/17*





○

*تـر يـو جهـان ئـې ګـوره بـل جهـان دې هسـې لـوی*
*دا ځکـه چـې بـې شـکه د دهٔ شـان دې هسـې لـوی*

*پـهٔ دې نظـام کښـې شـته دي د قامـت لـوی وجودونـه*
*پـهٔ زمکـه لکـه مـونږ تـه چـې اسـمان دې هسـې لـوی*

*ژونـدون ددې دنيـا خـو لکـه ډېـرې شـپې او ورځـې*
*د ژونـد هغـه دنيـا کښـې خـو يـو آن دې هسـې لـوی*

*ازل نـــه تـــر ابـــده د آدم نـــه تـــر دې دمـــه*
*د خـــدای تـــر تصـــوره دا داســـتان دې هســـې لـــوی*

*کارونـــه دي د عقـــل يـــه د ډېـــر جنـــون پرېشـــانه!*
*انسان چې څومره رسي تر خپل ځان دې هسې لوی*

*24/1/17*

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې طلب ئې کوي دا حق د هغو دئ
د جمال کور د جمال د لیونو دئ

د ژوند مست سمندر بل چرته بهیږي
دا دنیا خو د مرګ کور د مبلمنو دئ

که هر څو ئې ده کوڅه د ګلو ډکه
د دلبرکور ته مزل پهٔ سرو ازغو دئ

ستا پرده کولو ډېرې پردې لرکړې
ښکاره مهٔ شه که دې مخ پټ پهٔ پردو دئ

له نظره سېرکال مهٔ یرېږه یاره
پرېشان کړې تاته کر د سپلنو دئ

*2017*





پهٔ نرګس پسې بیماره لونګینه
ای زما زړګیه خواره لونګینه

سم ځنګېږمه پهٔ لاره لونګینه
ستا د سترګو له خماره لونګینه

خبر نهٔ ئې ای زما یاره شېرینه
لاس اخیستي مې له کاره لونګینه

یارانه راسره وکه غنمرنګه
زندګي مې شوه بې یاره لونګینه

جولۍ ډکه ئې د ګلو نه ګلرنګه
پرېشان راغي له ګلزاره لونګینه

*2017*

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

مرګې خو حق دے چې مرګونه نهٔ وے
ژوندون بخښل وے چې قتلونه نهٔ وے

دغه لاسونه پهٔ نکريزو سرهٔ وے
پهٔ وينو سرهٔ دغه لاسونه نهٔ وے

تورسرې ښکلے پهٔ خالونو ښکاري
پرې دا د ظلم پرهارونه نهٔ وے

دا مرغکې خو د الله ثنا کړي
مات ئې ښکاري دا وزرونه نه وے

د هر ژوندي پهٔ غم پرېشان دے پرېشان!
چې ئې نيمګړي ارمانونه نهٔ وے

2017





○

ای وايه تر اوو أسمانو بره سمندره
بهېږې روان چرته يې بې سره سمندره

تهٔ نهٔ هيڅ بهر د يوې ذرې تر سينې کله
هر څو د تصور ځنې بهره سمندره

دستا پهٔ سينه کيږې مزلونه د پېريو
د خپل وجود پهٔ تال کښې ای ژوره سمندره

تهٔ مسته رواني ئې پهٔ جهان کښې د نورونو
تهٔ نهٔ ئې پهٔ کوزه کښې سمندره سمندره

پرېشان دې لاهو کړے نن د کېف پهٔ سمندر کښې
د دغه کېفيت نه ناخبره سمندره

21/5/17

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

*د خيال مانۍ دې چې نسکورې نۀ شي*
*ور د توبې انسانه! پورې نۀ شي*

*د دولتونو وړيه نفسه زما*
*له وجود دا لمبې درپورې نۀ شي*

*دا زۀ او تۀ چې پکښې مست ګرځېږو*
*د دې ګلشن علامې نورې نۀ شي*

*ترهغې زلفې به ئې غوړې نۀ شي*
*ترڅو چې دا څڼې ئې سپورې نۀ شي*

*پۀ رڼا ورځ ميدان ته راشه اشنا*
*پۀ تورو شپو پرېشانه! تورې نۀ شي*

*21/5/17*





○

*راځۍ چې ببرته انسانيت معراج ته ورسوو*
*لکه باچا ئې چې خپل تخت وتاج ته ورسوو*

*پۀ دين کښې شته د هرې نوې خطا خپله سزا*
*نۀ چې مونږ هرګناه زاړۀ رواج ته ورسوو*

*د خپل ، پردي د ښۀ او بد سترګو ته اونۀ ګورو*
*خپل خبر ښېګړه مونږ غريب محتاج ته ورسوو*

*اې نړيوالو بس راځۍ چې پۀ يوه خلۀ شو ورته*
*پۀ زور د امن د جنګ راج تاراج ته ورسوو*

*پرېشانه! مونږه د قاتل پۀ باب غندنه وکړو*
*د مقتول غږ د نړۍ هر سماج ته ورسوو*

*2017*

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما چې سم ګرانه دستا محبت کړے
هر ستم ته مې ژړا د منت کړے

راز د مینې مې رښتیا چې پټ ساتلے
که اقرار د محبت مې جوت کړے

که هر څو یم د خلوت په اندرون کښې
تماشه مې د بېرون د جلوت کړے

ما خو تش لتانه ست کړے دے ښکلیه!
ما چې کله هم دستا ثخه ست کړے

دا کوم باد دے ای پرېشانه! راالوتے
چې مشال د محبت ئې دے تت کړے

*2017*





شېخ ته!!!!!!

شېخه دا ستا د خلوت د جنتونو قیصې
دغه د حورو د غلمانو د خوبونو قیصې
دا د خیالي جنت د شرابو د سیندونو قیصې
محض ستا د زړۀ د خوشحالیدو دپاره ښې دي
خو!!!!!!
خو د جلوت د ژوندانۀ پۀ سرۀ میدان کښې
د انسان د هستۍ د زوال او ظلمتونو قیصې
او د معصومو شونډو د ژړا
د تورسَریو د بېوسۍ او فریادونو قیصې
ستانه ستا د خیال جنت
ولې نۀ کړو هېر توبه!!!!!!!!!!!!!!!

*2017*

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه ملاجانه! د جنت قیصه یوخواته کا
غوږ دې د دې دور د انسان څوروژړاته کا

وېش د غریبانو د حقونو درته ګران شولو
پاڅه ای غټ خېټېه! خو نیم ځانته او څه ماته کا

ما سره دې ژبه د نن کړې وه په سرو شونډو
خله مې د نن راکړه د سبا قیصې سبا ته کا

دا زمانه کله د رازونو جهان پېژني
سر دې سلامت شه چې خلوت قیصې ببدیا ته کا

راشه ای پرېشانه! چې جوت راز درته اوښایم
غم د عقبا واخله د دنیا کارونه شاته کا

2017





بیا مغني چې پهٔ نغمه د سحر لاس کړ
خوږمن زړهٔ مې پهٔ ثنا د دلبر لاس کړ

د حرم پیران بیا رقصِ جمعیت کا
د وحدت اثر ئې بیا پهٔ ځیګر لاس کړ
نوي څهٔ دي دا زما پهٔ سرهٔ جنون کښې
پهٔ شکرو دې د شونډو خوګر لاس کړ
ما پهٔ دومره بېدردۍ وو کله ثښېلي
تا پرې شېخه نن زما نه بهتر لاس کړ
ستا د خیال پهٔ سیند مې کله زړهٔ اوبهٔ ثښې
ساقي ما د یار د عشق پهٔ بحر لاس کړ
دا چې برند دې شول بانهٔ تهٔ څهٔ پوهېږې
تورو سترګو دې اشنا پهٔ خنجر لاس کړ

بلبلانو پهٔ ګلشن کښې نغمې بس کړې
ځوان پرېشان چې پهٔ نغمه د هنر لاس کړ

/8/2017

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشنا مونږ پهٔ کږو لارو هم سم کوو مزل
همېش روان وو ځکه کم کوو مزل

یو څوک د حسن لمر راته د بام څخه راګوري
تهٔ څه د لارې مله! مونږه کم کوو مزل

مونږ ستا پهٔ شانې شېخه چرته هسکه غړۍ وړې شو
چې خم وخمار نشته ځکه خم کوو مزل

همته! منزلونه پهٔ مزل باندې لنډیږي
منزل قدم قدم دے که قدم کوو مزل

د دور د انسان غمژنو سترګو کښې پرېشانه!
غمژن غمژن له دړده لکه نم کوو مزل

10/9/17





زهٔ خپله نشه لرم زهٔ سرې سترګې پښتون یمه
تورې سترګې هم لرم هم شنې سترګې پښتون یمه

ما ډېر څه زده کړي دي د وخت د ناکړدو څخه
نن سبا یو دوه څلور زهٔ درې سترګې پښتون یمه

یو خوا مې جمال ګوره او بل خوا مې جلال ګوره
ښکلے یم ښاغلے یم او مړې سترګې پښتون یمه

دا خو بلبل شوے یم زهٔ پهٔ پردو خلو باندې
بد بد راته مهٔ ګوره زهٔ ښې سترګې پښتون یمه

زهٔ پرېشان محسود یمه ، زهٔ محسود پښتون یمه
زهٔ که بدل شوے زاړې سترګې پښتون یمه

20/9/17

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې نه پهٔ تول وو نهٔ پهٔ تله پوره
نن هغه څوک شول سل پهٔ سله پوره

د الله ذات دے تل تر تله پوره
غریب انسان دے چرته کله پوره

هر یو تعمیر غواړي همت لالیه!
نه به شي چرته هیڅ پخپله پوره

چې د ازغو لښکرې تاو شوې درنه
اوس پهٔ رښتیا شوے زبېره ګله پوره

د کلي خلک وو تهول غوږ پرېشان ته
خوار شې غزله! تهٔ شوې څله پوره

24/9/17





## روماني غزل

سره ښکلې ځواني دې د لیدو سره جوړېږي
ځوان ځوان اننګي دې د کتو سره جوړېږي

هر څوکه جانان مې د شپېتو شو خو جانان دے
نه به وایم دا چې د ویشتو سره جوړېږي

څاڅکي د ګبین دې د باڼو نه څاڅېدلے
غونډه منډه خلهٔ دې د غوړو سره جوړېږي

یه پښتنې تا چې له ساړې چینې راوړې دے
ډک منګے دې واخلمه د څکو سره جوړېږي

دا چې ما پرېشان درته پهٔ لاسو کښې نیولي دي
دا د خیال ګلونه دې کمڅو سره جوړېږي

26/9/17

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام حضرت سلطان باهو (فارسی)

ببازی عشق میبازم دل و جان رافدا سازم
بدم منصور می نازم خود را فدا سازم

عجب وقتیست ای یارانو اگر باشید غمخواران
شوید آگاه دلداران که من خود را فداسازم

بزلف یار دل بستم به بستن دل چنان مستم
دو عالم رفت از دستم کنون خود را فدا سازم

زَ درد دل چنان خستم زجان هم دست خود شتم
کنون از دردِ دل گفتم که من خود را فدا سازم

فدا سازم وگر باری سر خود رابدلداری
چه خوش باشد نکوکاری که من خود رافداسازم





## منظوم ترجمه پښتو پرېشان محسود

زه د عشق په سر بازۍ کښې د خپل ځان ځنې تېرېږم
د منصور غوندې په عشق کښې پخپل ځان باندې نازېږم

دا لمحه څه عجیبه ده ، که څه یې ای یارانو
شئ خبر په دې خبره د خپل ځان ځنې تېرېږم

زما زړه د یار د زلفو اسیرۍ کښې هسې مست دے
لاس وینځلي له عالمه د خپل ځان ځنې تېرېږم

زه د زړه له دړده هسې زخمي شوے چې اوس مرمه
اوس د زړه و دړد ته وایم د خپل ځان ځنې تېرېږم

د دلدار په در کښې بیا یوځل خپل سر قربانوومه
څومره ښه به دغه کار وي د خپل ځان ځنې تېرېږم

2/1/17

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلام    علامه اقبال    (فارسی)

از دیر مغاں آیم بی گردش صهبا مست
در منزل لا بودم از باده الا مست

دانم که نگاه او ظرف همه کس بیند
کرداست مرا ساقی از عشوه و ایما مست

وقت است که بگشایم میخانه رومی باز
پیرانِ حرم دیدم درصحنِ کلیسا مست

ایں کارِ حکیمی نیست دامانِ کلیمی گیر
صد بنده ساحل مست یک بنده دریا مست

از حرف دلاویزش اسرارِ حرم پیدا
دی کافر که دیدم در وادی بطحا مست

سینا است که فاران است؟ یا رب چه مقام است ایں
هر ذره خاک من چشمے است تماشا مست





منظوم ترجمه    پښتو    پرېشان محسود

زه له مغان راغلم په تلاش ددې صهبا کښې مست
وم د لا منزل کښې په شرابو د الا کښې مست

پېژنم چې هغه هم د هر یو چا ظرف پېژني
زه که خپل ساقی کړمه په ناز او په ادا کښې مست

وخت دے مېخانه چې د رومی دوباره خلاصه شي
ما پیران لیدلی د حرم په کلیسا کښې مست

کار د عقل نه دے د رهبر لمنه ونیسه
سل کسان په غاړه د ساحل یو په دریا کښې مست

نن ئې پېدا کیږي له خبرو د حرم قیصې
هغه د پرون منکر په وادیِ بطحا کښې مست

دا سینا فاران ده؟ که ای ربه کوم مقام دے دا
ټول وجود مې سترګے دے دستا په تماشا کښې مست

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دنيا او قسمت

دا خو بس دنيا ده چې ځوک کورته او ځوک ګورته ځي
ځوک د زمکې تل ځوک د اسمان په لمن پورته ځي

دا خو بس دنيا ده ، ځوک په بره پاس اسمان ته ځي
ځوک د سمندر سينه کښې ځوک مېنځ د طوفان ته ځي
ځوک لکه مجنون ځيرے ګرېوان و بيابان ته ځي
ځوک د مريخ لار واخلي او ځوک سپوږمۍ جانان ته ځي
ځوک تش کهنډراتو او ځوک ښکلي ګلستان ته ځي
ځوک پۀ خوب اودۀ پراتۀ او ځوک سر د کاروان ته ځي
ځوک پوله پټې ته ځوک سحر وختي دکان ته ځي
ځوک د مرګ تختۍ ته د جلاد سره زندان ته ځي
ځوک د رب په لوري او ځوک غېږے د شېطان ته ځي
ګل په لاس کښې واخلي ځوک ټوپک مرګِ انسان ته ځي





دا خو بس دنيا ده چې سپرلے شي خزانونه شي
کله روڼ سحر شي کله ږنګ تور ماښامونه شي
کور کښې دچا شمع دچا خونه سرۀ اورونه شي
ځوک شي د پستۍ پۀ رَو دچا لوړ مزلونه شي
لار د عقل واخلي ځوک مجنون پرے ګرېوانونه شي
ځوک شي د امېد غلام د چا پوره خوبونه شي
چاته ګوهر خاورے چاته خاورے سرۀ لالونه شي
ځوک معذور پېدا شي تر خپل ځان ئې طوافونه شي
دلته د غريب پۀ سر هم خاورے انبارونه شي
بس دغه نظام کښې ځۀ خبرے ځۀ رازونه شي

دا خو بس دنيا ده ، يَوه ورځ به انقلاب راشي
صورته اسرافيل به پۀ ښۀ حکم پۀ شتاب راشي
غرونه به وړۍ شي پۀ هر ځۀ به تور سېلاب راشي
هيڅ امکان به نۀ وي چې په زمکه بيا شباب راشي
ورځ کښې د محشرورځ به د هر چا حساب راشي
وخت به د مولا سره د سوال او د ځواب راشي
برخه کښې جنت د چا پۀ حق کښې به عذاب راشي
ځوک به خوش قسمت ځوک به بد بخت خانه خراب راشي
مونږ له شفاعت له به نبی اکرم جناب راشي
ژوند به سمندر شي که صدۍ لکه حباب راشي

23/12/16

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

نن ئې پېمان د پېمانې کړے دے
ځکه مې نيت د مېخانې کړے دے

دلته که تېنګ کړے رباب دے خدايه !
هلته آواز هم تورانې کړے دے

پوره تحرير د سر په وينو سور دے
پرې اثر خپلې سرنامې کړے دے

کړم د تنزرى آوازونه ځکه
چې مې ارمان د ويرانې کړے دے

که کائنات ته وم په ځير پرېشانه!
ما تصور د حېرانې کړے دے

12.11.17





○

والوتے كونترې په هوا كښې
خلاصې کړې وزرې په هوا كښې

مرګ به درپسې تر آسمان ورسي
واغوندې که زغرې په هوا كښې

راغللو په زمکه پښې ئې کېښودې
ووئې کړې خبرې په هوا كښې

امن او سپرلے جوړه راغلي دي
اووايه سندرې په هوا كښې

لا ړمه پرېشانه ! مسافر شومه
لا ړم لرې په هوا كښې

13.11.17

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د فطرت پهٔ رنګینیو کښې یم
زهٔ د حېرت پهٔ رنګینیو کښې یم

ای د وحدت د فلسفې یقینه!
که د کثرت پهٔ رنګینیو کښې یم

د کائنات پهٔ تصور کښې خدایه!
ستا د قدرت پهٔ رنګینیو کښې یم

پهٔ یَوهٔ بوټي کښې همه رنګونه
د دې نُدرت پهٔ رنګینیو کښې یم

خدایه پرېشان له خپله عقله باغي
ستا د وسعت پهٔ رنګینیو کښې یم





بې زړه طبیب ته مې زخمونه د ښودلو نهٔ دي
هو دې غریب ته دا حالونه د وئیلو نهٔ دي

پهٔ هر صورت ئې ځان ته هره ناروا روا کړه
د شېخ خبرې دي که هر څو د منلو نهٔ دي

دا کوم خویونه چې جانانه ته پرې فخر کوې
زما پښتون ضمیر کښې هرګز د ستائیلو نهٔ دي

رنګین ګلونه پهٔ فطرت کښې تش ګلونه نهٔ دي
دا دجمال سیوري د هر چا د لیدلو نهٔ دي

د خدای پهٔ ګونګ مخلوق د رحم پیمانه پرېشانه!
او که پما شي د دوئ غوښې د خوړلو نهٔ دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بیا ماښام شو ساقي
مست دې خیام شو ساقي

پهٔ ما دې پام شه ساقي
پهٔ تا مې پام شو ساقي

هله چې کړنګ وهي جام
صبر تمام شو ساقي

د ستا به کام شي ساقي
زمونږ ناکام شو ساقي

پرېشان باچا شو د خیال
خیال ئې غلام شو ساقي

28.11.17





(( لنډ شعرونه ))
د روښاني فکر خاوند
( پیر روښان )

پهٔ سماع او پهٔ سرود یې رندان مست وو
د خواږې مینې پهٔ درود یې رندان مست وو
د روښان د روښاني فکر عرفان وو
چې له ذوقه پهٔ دې دود یې رندان مست وو

شاعر د هوا لاس

څومره حساس یم
همه حواس یم
دا چې شاعر یم
د هوا لاس یم

دوه شعرونه
ځان ملنګ کړه پهٔ کوځه کښې د شاهانو
ملنګ هیڅ شه پهٔ دربار د ملنګانو
چې حصول یې تل د سپین مخ د رڼا کړو
سرې لمبې شوے پهٔ نصیب د پتنګانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سترګې

ستا سترګې مې پهٔ سترګو کښې نن سترګې کيږي
دا ځکه مې جانانه سترګې غبرګې غبرګې کيږي
لَشې لَشې نشه مې پهٔ زړونو کښې بهيږي
بانهٔ مې نن د چا پهٔ زړهٔ کښې درګې درګې کيږي

## لېونې خيال

دا يار راغلو پهٔ مخه که تول نور راغې پهٔ مخه
يو خوب وينم پهٔ ويښه کوهِ طور راغې پهٔ مخه
د رنګ او د رڼا پهٔ مخ يې وکړې غزونې
دا خيال مې لېونې لکه منصور راغې پهٔ مخه

## دوه شعرونه

چې وچا لره مې زړهٔ پهٔ صبر شين شي
هغه څوک د بل د زړهٔ پهٔ تخت نشين شي
پهٔ وجود يې لکه باز د ځګو غرونو
اى بچيه که دې فکر د شاهين شي





## مجبور احسا س

پهٔ کومه مخه د حالاتو زور اخيستې يمه
د خړو خاورو د جذباتو زور اخيستې يمه
چغې وهم خو اى پرېشانه وزر نهٔ غزَوم
د چا دګل مخ احساساتو زور اخيستې يمه

## دوه شعرونه

نن يې زمونږ پهٔ مخکښې دواړه سترګې پټې شولې
هغه، چې مونږ ته به يې تول عمر ښودلې لارې
مونږ د طلب او د مطلب پهٔ لارو نهٔ ځو پرېشان!
زمونږه لارې د خلوص ډکې سپېڅلې لارې

## د هجر شپې

سترګې ډکې شي له اوښکو پهٔ ژړا شي
ستمونه دې جانانه چې سيواشي
ستا د يو نظر ليدو پهٔ طمع طمع
څهٔ د هجر بلا تورې شپې رڼا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه شعرونه

تللـــي پلونـــه پـــهٔ دې لار د قـــافلې دي
دغـــه پلونـــه د ســـردار د قـــافلې دي
نـــهٔ منـــزل ورتـــه معلـــوم وي او نـــهٔ لاره
داســـې خلـــک مـــو ســـالار د قـــافلې دي

## د يارانو ياد

چـــې خـــوا رهٔ خـــوا رهٔ يـــاران د چـــا جـــدا شـــي
د محفـــل شـــمع بـــه څـــهٔ د چـــا رڼـــا شـــي
د فـــراق بـــې واره وار مـــې وار خطـــا دے
هـــر يـــو وار مـــې هـــر يـــو وار تـــه وار خطـــا شـــي
څـــهٔ پـــهٔ يـــاد کښـــې د خـــوا رو خـــوا رو يـــارانو
د خيـــالونو دنيـــا لاړه شـــي فنـــا شـــي

## ګيله

يـــاره بـــس د خپـــل قســـمت نـــه مـــې ګيلـــه
ګويـــه ســـتا خـــوګنـــي مينـــه راســـره ده
د زړګـــي تـــاودهٔ زخمونـــه پـــرې ثاټمـــه
د قلـــم ژبـــه مـــې بيـــا پـــهٔ وينـــو ســـره ده



د لفظونو په سینو کښې پرېشان محسود

## د جذباتو حادثې

دا زمـــا د تخيـــل د راز چپـــې دي
دا زمـــا د تخيـــل د بـــام قيصـــې دي
اې زاهـــده ســـتا نـــه هســـې وار خطـــا دے
دا خـــو هســـې د جـــذباتو حـــادثې دي

## ژوند

عجيبـــه د تـــرپ ژونـــدون دے
د بـــانړو د رپ ژونـــدون دے
د ازغـــو پـــهٔ لار مـــزل دے
د تـــرپ تـــړپ ژونـــدون دے

## ميئن

ميئن لکه شب ګرد پهٔ توره شپه چې شب ګردي کـا
څهٔ نياز دے چې خپل داغ يې د سينې شب افروزي کـا
نيـاز نشـته کـه ميئن تـه پـهٔ لاس ورنـهٔ شـي زلفينـې
پتنـګ ګـوره پـهٔ شـمع بـې پـروا جانګـدازي کـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قطعه

پهٔ صورت ښکلے ښائسته ده سمن رویه
پهٔ سیرت توره بلا ده دل سنګینه
یَوه ورځ به مې زړهٔ وچوي ای پرېشانه!
خدای چې راکړو ډېر ارمان او ډېره مینه

## شاعر ته

راځي چې د بل لوري دا تراشلې ملغرې
تهٔ بیا څهٔ ګوتې شمېرې پهٔ کلام پسې شاعره
نغمې دې له ازله په سرشت کښې زېږدلے
که بله بهانه کړے پهٔ الهام پسې شاعره

## د نقیب پهٔ مرګ

تهٔ شوے د دې خاورو او که ستا شوے دغه خاورے
پوی نهٔ شوم خو بار شولے د خاورو سره خاورے
ولے مرور وو دا خاکي وجود له خاورو
چا کړلے د خاورو سره دلته پخله خاورے





## د جمال مېخانه

وایه څومره رندي وکړم د جمال د مېخانې نه
نن پهٔ مونږ نوازش شوے د جلال د مېخانې نه
ما د زړهٔ وینې ورکړي د احساس له برکته
دا مستي زما پهٔ شعرکښې د خپل خیال د مېخانې نه

## درې شعرونه

چې نهٔ مې سوال نهٔ مې توبه قبلېږي
دا کوم ګناه مې د ځوانے ژړوي
سینه خالي زما د غم نه نهٔ ده
څوک خو به وي چې مې زړګے ژړوي
د چا کمے محسوسوم پهٔ شدت
پرېشانه! ما که پسرلے ژ ړوي

## د زړهٔ خارو

لکه پېغله په شباب کښې شي ابساره
یه نغمه لکه رباب کښې شي ایساره
نن زما د زړهٔ خارو هسې مزل کا
پهٔ دې نوي تګ به ما نوے پاګل کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اذیت

لکه بلبل کړم رياضت د ژړا
کړم بيا په اوښکو عبادت د ژړا
وخت څهٔ په داسې اذيت کښې پرېښوم
ماله يې رانهٔ کړو فرصت د ژړا

## دوه شعرونه

توري زلفې يې د سپين مخ نمائش کا
د قمر پهٔ دود پهٔ وريځ کښې زېبائش کا
ښاپيرۍ دې وي تل ځوانې اې پرېشانه!
چې د ښکلو ښاپېريو افزائش کا

## درې شعرونه

مطرب چې مست تار د ستار غبروي
ماسره پټ مرور يار غبروي
وخت د ژوندون پهٔ ژبه خلهٔ لګوي
دوه ياران څومره پهٔ رفتار غبروي
مضبوطوي مې دجذباتو ايمان
عشق مې پرېشانه! څهٔ پهٔ جار غبروي



د لفظونو په سینو کښې    پرېشان محسود

## هلال

د شاعر پهٔ ښکلو سترګو کښې مثال يې
ستا له سپينې کوکۍ زار شمه مشال يې
ما بغېر له درده څهٔ دي محسوس کړي
زهٔ خوشحال ومه اشنا چې تهٔ خوشحال يې
د پرېشان د خيال اسمان پهٔ تا رنګين دے
تهٔ زما د ژوند د ورکې لار هلال يې

## د غرهٔ ګلاب

هېر دې کړو لما خنکه د زړهٔ ګلاب
سترګې دې دلبره پهٔ ماستهٔ ګلاب
تهٔ مې تل پهٔ لارو کښې ازغي شينده
زهٔ به دې کرمه تل پهٔ ورهٔ ګلاب
دغه نزاکت دغه شوخي او رنګ
ښکلے قدرتي لکه د غرهٔ ګلاب

## تکل

ما خو پهٔ شګو کښې ژوندون کړے دے
پهٔ صحراګانو کښې مې يون کړے دے
زهٔ خو د وخت غرمو سېزلے يمه
نهٔ مې ارام نهٔ مې سکون کړے دے
ما خو د خپل ځان تکل نهٔ دے کړے
تل مې اشنا دستا لټون کړے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه شعرونه

توره تهٔ کړې، ډهال دې زهٔ کړم
وبال تهٔ ، جنجال دې زهٔ کړم
خدای دې مل شي ستا پهٔ نېکي
کمال تهٔ شوې ، مال دې زهٔ کړم

## یار

راروان چې شي له ورایه
په همزولو کښې نمایه
قدوقامت به ئې څهٔ ستایم
له چنار ئې اوږده سایه
یار دې ښکلی دے پرېشانه!
پهٔ هزار صفت ئې ستایه

## هغه څهٔ دي؟

پهٔ یوګل کښې چې عیان دي هغه څهٔ دي؟
دبلبل پهٔ خلې بیان دي هغه څهٔ دي؟

داچې پټ ښکاره جوت دي پهٔ باطن کښې
په ظاهرکښې چې پنهان دي هغه څهٔ دي؟





## د انسان ژړا

یو خوا د اسان ژړا
بل خواه د جنت سودا
یوخواته رڼا تیارهٔ
بل خواته تیارهٔ رڼا

## دوه شعرونه

که محبت مې درسره پیدا شي
لږ د ژوندون به مې اسره پیدا شي
زخم د زړهٔ چیرم چې سوز پیدا شي
له سوزه تکه سره نغمه پیدا شي

## د غِاړې هار

د غاړې هار ته هار د غاړې راوړم
ځمه وغرهٔ ته سرهٔ ګلونه شنې ممانې راوړم
پخپله هم لکه د زانې هسې زنه لري
جانان ته خوند ورکوي زانې ورته زانې راوړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



### درې شعرونه

ستا پهٔ کتو چې ګلې نهٔ ومرمه
پهٔ سرو ګولو به بلې څهٔ ومرمه
تهٔ دې مره نشې چې ښېرې مې وکړې
دې تا پهٔ ځاى دې ګلې زهٔ ومرمه
مړ پهٔ فرياد فرياد کښې نهٔ شوم پرېشان!
که شومه چپ غلې به ښهٔ ومرمه

### د حسن خيال

پرېږده چې ستا د حسن خيال مې تر عدنه يوسي
چې فرېښته مې د جنون روح له بدنه يوسي
دا ازلي مئن دي دا ئې کله باک نهٔ کړې
ستا له محفله که هر څو تار تار لمنه يوسي





پرېشان که څو پهٔ ژوند د زړهٔ رازونه پټ وساتي
رنځور ګلونه به يې بيا هم پهٔ مزار ولاړ وي

يو شعر:

ناخبره ښهٔ يې داسې خبر مهٔ شې
پهٔ خبرو به دې سر شي که خبر شې

يو شعر:

له خبرو ناخبر دي ځنې خلک
پهٔ خبرو به خبر شي ، که خبر شي

يو شعر:

زهٔ ګوهر يم پخپل راز کښې
زهٔ مشکنې غوندې يم

يو شعر:

ما خو سر د خپله سره اوچت نهٔ دے
تور پما باندے جانانه چې د بام بږدے

يو شعر:

پهٔ ګلشن کښې د مرغيو شورما شور وي
د بلبل پهٔ نعرهٔ سوز ،، نعرهٔ خبر ،، کا

يو شعر:

چې په خانه د زړګي اور اولګي
پهٔ مبخانه دې ساقي اور اولګي

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**